

# د څېړنې راپور

## د ټول‌شموله، دوامداره او تلپاتې سولې په لور :
## د افغانستان د کوچنیو اقلیتونو غښتلتیا، په رسمیت پېژندل او مشروعیت ورکول

لیندۍ ۱۳۹۹

HREVO

Human Rights & Eradication of Violence Organization

## د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي له منځه وړلو موسسه (HREVO)

# د څیړنې راپور

## د ټول‌شموله، دوامداره او تلپاتې سولې په لور:

## د افغانستان د کوچنیو اقلیتونو غښتلتیا، په رسمیت پېژندل

## او مشروعیت ورکول

**یادونه:**

دغه سند د اروپایي ټولنې په مالي ملاتړ چمتو شوی او په کې مطرح شوی لیدلوری په هېڅ صورت د دغې اتحادیې رسمي نظر ته انعکاس نه ورکوي.


وب پاڼه: www.hrevo.org

د اړیکې شمیره:: +۹۳(۰)۷۸۹۱۳۸۹۸۹

برېښنالیک: info@hrevo.org

فېسبوک پاڼه: Human Rights and Eradication of Violence Organization (HREVO)

## د مطالبـو لـړ لیک

منـنه او درناوی ........................................................................ ب
غورچاڼ ............................................................................ ۱
وړاندیزونه........................................................................... ٤
۱. مخینه ................................................................ ٦
۱،۱.د دغې څېړنې موخې................................................. ........................ ۷
۱،۲.کوچنې اقلیتونه.............................................. ............................. ۸
۲.د څېړنې تګلاره...... ....................................................................... ۱۰
۳.د څېړنې اصلي موندنې ............................................................................ ۱۳
۳،۱.د سولې پروسه کې د اقلیتونو اندېښنې.................................................... ۱۳
أ.د افغانستان د سولې له پروسې څخه د اقلیتونو عمومي اندېښنه ...................... ۱٤
ب.د سولې پروسې په تړاو د اقلیتونو ځانګړې اندېښنې .................................. ۱۷
۳،۲.د سولې پروسه کې د اقلیتونو غوښتنې او لومړیتوبونه .................................. ۱۹
أ.د افغانستان د سولې له پروسې څخه د اقلیتونو ټولیزې غوښتنې ......................... ۱۹
ب.د افغانستان د سولې له پروسې څخه د اقلیتونو ځانګړې غوښتنې........................ ۲۲
۳،۳.د اقلیتونو د مشارکت میکانیزم: څېړنه کې د ګډون کونکو وړاندیزونه او نظرونه .......... ۲۹
أ.د اقلیتونو د یوه ائتلاف یا عالي شورا رامنځ ته کول ......................................... ۲۹
ب.د مدني ټولنې او رسنیو فعالیتونه................................................. ....... ۳۰
ج.له اقلیتونو څخه د ملاتړ لپاره د خپلواکه بنسټونو د ظرفیت لوړول ...................... ۳۱
وړاندیزونه........................................................................................ ۳۲
کتاب پېژندل...................................................................................... ۳۳
۱ ضمیمۀ: دغه څـېړنه کې د شاملو اقلیتونو نوملړ او شرحه ................................... ۳٦
۲ ضمیۀ: د مالوماتو راټولولو وسیله ................................................................ ٤۱

# مننه او درناوی

د افغانستان د سولې پروسه کې د څنګ ته کړل شوو توکمونو (اقلیتونو) د لیدلورو په برخه کې دغه ستراتیژیکه مطالعه، د اروپایي ټولنې په مالي ملاتړ، د سویډن د نړیوالو همکاریو او پراختیا اداري له لوري ترسره شوې ده. له دغې جامع او ژورې څېړنې څخه موخه، د افغانستان څنګ ته کړل شوو قومونو یانې کوچنیو توکمونو (اقلیتونو) ته د توجه جلبول دي، ترڅو غږ او غوښتنې یې واورېدل شي او د سولې پروسې اړوند هڅو او د شخړو له حل وروسته وضعیت کې یې اندېښنې په پام کې ونیول شي.

د کوچنیو توکم (اقلیت) ډلو او د اجتماعاتو د غړو، قومي مشرانو، د دغو اقلیتونو د استازو او متخصصانو په ګډون، له ټولو هغو کسانو څخه چې د دغې له ننګونو ډکې څېړنه کې یې رول درلودلی او همکاري یې کړې، مننه او قدرداني کوو. همدارنګه د مدني ټولنې او د بشر د حقونو شبکې څخه مننه کوو، چې د دغې څېړنې ټولو پړاوونو کې یو ژمن او ارزښتناکه همکار وو او په ریښتوني ډول یې همکاري کړې ده.

ډاډه یو، چې دغه څېړنه به د افغانستان پر پالیسۍ جوړونکو او اصلاحاتو راوستونکو اغېزکونکې ووسي او د سولې پروسه او له سولې وروسته بهیر کې به، د افغانستان د کوچنیو اقلیتونو د لیدلورو، غوښتنو او اندېښنو په پام کې نیولو کې اغېزناکه ووسي او ورڅخه به هرکلی وشي. د دغې څېړنې موندنې کولی شي، د سولې راتلونکو پروګرامونو او همدارنګه نورو مواردو کې د شخړو په حل کې، د قومي ټولنپېژندنې، څنګ ته کړل شوو ټولنو او د فرهنګي بدلونونو په برخه کې د افغانستان پالیسۍ جوړونکو لپاره ګټور تمام شي. مونږ هیله‌مند یو چې د دغې څېړنې پایلې، د ټولو ښکېلو لورو، که هغه د دغې څېړنې له حوزې څخه بهر اړخونه هم وي، خو د افغانستان په څېر وضعیت لري، پام را واړوي او ورته لازم اهمیت ورکړل شي. د دغې علمي هڅې اوږدمهاله موخه د الهام سرچینه او د نړیوالې ټولنې د بېلا بېلو هیوادونو ترمنځ ټولنیز سولې ته د رسیدو لپاره نورې هڅې دي.

عبدالودود پدرام

د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د لمنځه وړلو موسسې مشر

# غورچاڼ

لکه څنګه چې یو افغان څېړونکی وايي، افغانستان له توکمونو (اقلیتونو) څخه جوړ هېواد دی.[1] دغه هېواد کې مختلفه قومي، دیني او مذهبي اقلیتونه ژوند کوي، چې مرکزي اسیا کې د امپراتوریو او د تمدن د پېژندو څلورلارې په توګه د هېواد ځمکنۍ، ټولنیز، فرهنګي او تاریخي وضعیت ته انعکاس ورکوي. د نوي افغانستان په رامنځ ته کېدو او دغه هېواد کې د قومي کرښو په ترسیم سره، څنګ ته کړل شوي، غیر مسلط او کوچني اقلیتونه، یا د سترو ژبنیو، قومي، دیني او مذهبي ډلو په دننه جذب شول او یا هم له پامه وغورځول شول. دغه واقعیت، د افغانستان په نویو شرایطو کې د ټولنیزو ستونزو د یوې نوې مجموعې لامل شوی دی. په تاریخي ډول، د کوچنیو اقلیتونو د حقونو ساتلو او تامین لپاره د مشارکت میکانیزمونو نه‌شتون، له سیاست او د افغانستان له ټولنې څخه د اقلیتونو د څنګ ته کېدو لامل شوی دی. تر دې هم د اندېښنې وړ وضعیت، د مېړنې نړۍ کړکېچ دی، چې په نړیواله سطحه په یوې مهمې مسلې بدله شوې ده. البته افغانستان ځانته بېل داستان او تاریخ لري. افغانستان کې څلورو لسیزو جګړو او تاوتریخوالي، د ټولنې او دولت اړیکې په بشپړ ډول ګډوډې کړې، چې دا خپله د کوچنیو او زیان‌منونکو اقلیتونو د وضعیت ترینګلي کېدو لامل شوی دی. له ۲۰۰۱ کال وروسته د زیاتره افغانانو حقونه د افغانستان په اساسي قانون کې ځای پر ځای شوي، چې په قانوني لحاظ د اقلیت ډلو حقونه خوندي ساتي. په واقعیت کې، کوچیني اقلیتونه اوس هم له سیاسي استازیتوب، د خدمتونو ترلاسه کولو او اقتصادي پرمختیا څخه محروم دي.

د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د سولې روانو خبرو، د افغانستان د جګړې پایته رسولو لپاره منحصر په فرد فرصت رامنځ ته کړی دی. خو، مختلفې ډلې او همدارنګه اقلیتونه اعتراض لري او فشار واردوي، چې د سولې بهیر او د سولې مرکه‌چې پلاوي ترکیب او د سولې اړوند بنسټونو کې یې استازي حضور نه لري. نیوک‌ګر وايي، د سولې پروسه د مسلطه اقلیتونو د سیاسي څېرو په واک کې ده او کوچني اقلیتونه یو ځل بیا دغه جریان کې څنګ ته کړل شوي دي. د نړۍ نورو ځایونو کې له

[1] جواد نسیم: افغانستان: له اقلیتونو جوړ ملت، د اقلیت ډلو حقونو په اړه د ملګروملتونو سازمان رپوټ، Manchester Free Press، ۱۹۹۲.

شخړې وروسته د شرایطو تجربې نبیي، چې د سولې پروسې بریا او تلپاتېوالي لپاره دې ټولو اړخونو ته، چې که شخړه کې رول لري او یا په یوه ډول ورڅخه متاثره وي، د سولې پروسه کې ونډه ورکړل شي. د پرمختللو ټولنو غوښتنې او الزامات، هر ډول شرایطو کې په ځانګړې توګه د بحران، د سولې خبرو او د شخړو حل پرمهال، په برابر ډول د واک او مسوولیتونو وېشلو او د مختلفه قومي ډلو ترمنځ د حقونو توضیع ته- چې د یوه ملت اجزا او د یوې ټولنې جوړښت تشکیلوي - اړتیا لري. د دولت حاکمیت لپاره فعاله او هراړخیز مشارکت په هماغه کچه ارزښت لري، څومره چې رښتت، حساب ورکول او موثریت مهم دی. تر هغه چې ټول لیدلوري په پام کې ونهنیول شي، په رسمیت ونهپېژندل شي او وا نه ورېدل شي، سوله به یوازې یو خوب پاتې شي. دغې موضوع ته په پام، د ملي پراختیا بهیر کې د اقلیت ډلو اهمیت، له فرهنګي تخبهګانو (نوموتو څېرو) څخه کم نه دی. په دې توګه، دغو اقلیتونو ته باید اجازه ورکړل شي، چې د پالیسیو جوړولو او د سولې خبرو په څېر مهمو ملي بهیرونو کې ونډه واخلي. دغو مشاهدو سره سم، د نړۍ په کچه د سولې د بهیرونو تجربې ښیي، هغه پروسې چې د ټولنې پراخ لوري په کې ګډون لري، نسبت د سولې هغو هوکړو ته، چې د جګړې ښکېلو مشرانو او د نخبهګانو ترمنځ لاسلیک شوي، ډېرو دوام کوي.[٢]

دغه څېړنه لاندې دوو موخو ته د پام کولو له لارې د سولې روانه پروسه کې د تشو ډکولو لپاره هڅه ده: ١) د سولې پروسه کې د کوچینو اقلیتونو غوښتنو او اندېښنو ته پام کول، و ٢) یوه پراخ سیاسي بهیر کې د اقلیتونو شاملولو لپاره د لارو موندل او د وړاندیزونو وړاندې کول، چې د سولې خبرو په جریان او د سولې له خبرو وروسته حل‌لارو کې ملي او نړیوالو پالیسي جوړونکو سره مرسته وکړي.

دغه هراړخیزه څېړنه کې د کوچینو اقلیتونو مختلفو ډلو څخه ۵۹۵ کسان سروې شوي، چې (۵۲% نارینه او ۴۸% یې ښځې) دي، همدارنګه ډلهییزې مرکې او بحثونه په کې شوي، چې په کې ۱۸ متخصصینو سره مرکه او ۵۰ ډلهییز بحثونه شوي دي. دغه څېړنه کې د ګډونکونکو ترکیب د ژبنې، دیني/ مذهبي او قومي تنوع منعکس کونکی دی، چې د افغانستان په ۹ ولایتونو کې شوې ده. دغه ولایتونه له بدخشان، بلخ، بامیان، غور، کابل، ننګرهار، نورستان، نیمروز او جوزجان څخه عبارت

---

[٢] Nilsson, D., ٢٠١٢. Anchoring the peace: Civil society actors in peace accords and durable peace. International Interactions, ٣٨ (٢) pp.٢٤٣-٢٦٦.

دي. کوچني اقلیتونه چې دغه څېړنه کې مشخص شوي او ګډون یې په کې کړی، د افغانستان له ایماق، قزلباش، پشه‌یي، ترکمن، بلوڅ او براهوي، عرب، سادات، نورستاني، واخي، قرغیز، ګوجر، شیعیان اسماعیلي، سیک، هندو او جټانو څخه عبارت دي.

په ټولیزه توګه، د څېړنې پایله د پوهاوي د مختلفو کچو ترکیب ده. داسې حال کې چې د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو، د طالب زندانیانو خوشې کولو او د بین‌الافغاني خبرو څخه، په عموم ډول د اقلیتونو د پوهاوي کچه لوړه ده، خو اصلي اندېښنه یې د سولې پروسه کې د استازي نه درلودل دي، لکه څنګه چې ۷۹٫۱ سلنه ځواب ورکونکو ویلي، چې د سولې اړوند هېڅ یوې قضیې کې ګډون نه‌لري او له دې کبله اندېښمن دي. ۸۰ سلنه ځواب ورکونکو ویلي، چې دوی هیله‌مند وو، چې هغوی او ټولنو سره به یې د سولې روانو خبرو په تړاو مشوره وشي.

د سولې له خبرو وروسته د حل‌لارو په اړه اقلیت ډلو پراخه توګه (۹۸سلنه) ویلي، چې هوکړه باید د اقلیتونو حقوق، ارزښتونه او د هغوی قومي او مذهبي رسم‌او رواج تضمین کړي. اقلیتونه همدارنګه د یوه خپلواکه نظارتي بنسټ رامنځ ته کولو وړاندیز کوي، چې د سولې روانه پروسه کې د اقلیتونو د حقونو له نقض او له سولې وروسته سیاسي حل‌لارو څخه د نظارت دنده په غاړه ولري. دغه بنسټ باید د ټولو ښکېلو خواوو، که هغه کورني او بهرني د بشر حقونو سازمانونه دي، که مدني ټولنې دي، که افغان حکومت دی او که نړیوال ملاتړي یې دي، باید د هغوی په شمول رامنځ ته شي.

مرکې او ډله‌ییز بحثونه ښیي، چې د کوچینو اقلیتونو مشران اندېښمن دي، چې راتلونکي سیاسي حل‌وفصل کې له ګډون څخه به څنګ ته کړل شي او راتلونکي اساسي قانون او نړیوالو قوانینونو کې به یې له مندرج حقونو څخه محافظت ونه‌شي. د اړینې همغږۍ او د هغوی د وېرې او اندېښنو طرحه کولو لپاره د مشخص ادرس پر نه‌شتون هم ټینګار وشو. په پایله کې هغوی د یوه مشخص میکانیزم رامنځ ته کولو غوښتونکي وو، چې له هغې لارې خپلې اړتیاووې، لومړیتوبونه او خپلې اندېښنې منعکسه کړي. اقلیت ډلې د طالبانو د ژمنتیا او مسوولیت منلو کچه هم، د خپلو حقونو حافظت لپاره مهم بولي. ټولو اقلیت ډلو د افغانستان په سیاست او پراختیا کې او له سولې وروسته حل‌لارو کې، د خپل مشارکت لپاره د یوه کلیدي معیار په توګه د مثبت تبعیض غوښتنه کوله.

همدارنگه، د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنو د خوندي ساتلو په څېر د عمومي موضوعاتو ترڅنگ، د تحصیل حق، د کار کولو حق او د بیان ازادي هم د اقلیتونو له غوښتنو څخه وه: ۱) د قومیت، مذهب، د ژبې او ادابو ارزښتونو، او د هغوی د رسم‌او رواج په رسمیت پېژندل او ورته درناوی کول، ۲) د هغوی لپاره د مثبت تعبیض اعمال چې د څنگ ته کړل شوو اقلیتونو خوندیتوب لپاره لار پرانیزي، ۳) د بحث او خبرو د یوه پروگرام په لاره اچول او په ملي سطحه د اقلیتونو د مسایلو طرحه کول، ۴) د ټولنې د ټولو اقشارو پراخ مشارکت او له سولې وروسته د سیاسي حل‌لارو ټولشمولیت، ۵) سولې ته د رسېدو لپاره د اړینې فضا رامنځ ته کول، ٦) د سولې د دوام تضمین او ۷) لکه څنگه چې اکثریت خوشې شوي طالب زندانیان بیرته د جگړې ډگر ته ستانه شوي، د اقلیت ډلو غړي له طالبانو غواړي، چې د سولې راستو لپاره لا زیاته ژمنتیا او مسوولیت وښیي.

# وړاندیزونه

افغان حکومت او نړیواله ټولنه باید لاندې مهمو وړاندیزونو ته جدي پام وکړي:

- د سولې پروسه کې د اقلیت محوره کړنلارې غوره کول: که څه هم د نړیوالو کنوانسیونونو په اساس د اقلیتونو حقوقو او ازادیو ته درناوی شوی، مهمه ده چې افغان دولت، نړیواله ټولنه او طالبان نسبت د سولې خبرو ته، د ۱۹۹۲ کال د ډیسامبر ۱۸مې اعلامیې، چې د قومي، ملي، ژبې او مذهبي اقلیتونو پورې د تړلو کسانو حقونو په اړه ده، د سیاسي او مدني حقونو نړیوال تړون او د ۱۹۸۱ د اسلامي بشر حقونو نړیوالې اعلامیې ته په پام، اقلیت‌محوره کړنلاره ولري.
- د کوچنیو اقلیتونو یا د څنگ ته کړل شوو ډلو ښکېلول او د سولې روانو خبرو او له سولې وروسته حل‌لارو کې د هغوی د گټو، اندېښنو او هیلو په پام کې نیول، اساسي اهمیت لري.
- راتلونکې کې پر اساسي قانون احتمالي بیاکتنه باید د ټولو ډلو د شمولیت په ځانگړې توگه، د هېواد د اقلیتونو پر اساس ووسي. د اساسي قانون د بیاکتنې چوکاټ کې باید د کوچنیو اقلیتونو په گډون د اقلیتونو استازي شامل ووسي.

- په ملي سطحه د اقلیتونو د سترې شورا یا ائتلاف تاسیس او ملاتړ (د افغانستان د اقلیتونو ملي ائتلاف) چې د پلټفورم په توګه د اقلیتونو په ګټه د لابیګرۍ په برخه کې عمل وکړي.
- د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په څېر د خپلواکه بنسټونو ظرفیت لوړولو ته ډېره اړه ده، ترڅو له لارې یې د سولې پروسه کې د څنګ ته کړل شوو اقلیتونو له غوښتنو، اندېښنو او لومړیتوبونو څخه اړین او بلقوه ملاتړ وشي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کې تراوسه د اقلیتونو مسایلو لپاره کوم ځانګړی واحد نشته. ورته واحد کولی شي د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون له لوري هم رامنځ ته شي.
- ملي پخلاینه او عدالت: داسې حال کې چې د سولې پروسه کې د ټولو افغان لورو ښکېلتیا اړینه ده، له سولې وروسته د حل‌لارې لپاره، د افغانستان د قضاییه قوې تر څار لاندې د یوه خپلواک بنسټ رامنځ ته کولو ته اړتیا ده، ترڅو څېړنه وکړي او د بشر ضد جرایمو او جنګي تاوتریخوالي په برخه کې عدالت تطبیق کړي. د جګړې قربانیانو او تلپاتې سولې لپاره انتقالي عدالت ضروري دی.

# ۱. مخینه

افغانستان د "اقلیتونو هېواد" دی.[۳] افغانستان کې مختلفه قومي، دیني او مذهبي اقلیتونه ژوند کوي، چې مرکزي اسیا کې د امپراتوریو او د تمدن د پېژندو خلورلارې په توګه د هېواد ځمکنی، ټولنیز، فرهنګي او تاریخي وضعیت ته انعکاس ورکوي. خو تېرو بېلا بېلو لسیزو کې افغانستان کې دولت داسې جوړ شوی، چې تبعیض یې درلود، هغه هم په خاصه توګه د کوچنیو اقلیت ډلو پر وړاندې. د افغانستان سیاست او ټولنه کې د څنګ ته کړل شوو ډلو او د کوچنیو اقلیتونو په تړاو، پالیسی جوړونکو پورې اړوند پرېمانه اکاډمیکې څېړنې او لیکنې شته. د دې ترڅنګ، د نړیوالو تر ملاتړ لاندې له بُن وروسته، د دولت جوړولو پروسه، د قومي ډلو ترمنځ د دولت وېشلو او د دولتي بروکراسی لامل شوې ده. څلورو مسلطو ډلو (پښتنو، تاجیکانو، هزاره‌وو او ازبیکانو) د دولت او د افغانستان د امنیتي بنسټونو جوړولو او کنټرول ته مخه کړه. د رد اوتبعیض د نیمګړتیاوو له منځه وړلو لپاره هڅو کې، د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون په پراخه توګه د اقلیتونو حقوق مطرح کړي او هغه څخه یې سیاسي ملاتړ هم کړی دی. دغه اساسي قانون کې څوارلسو قومي ډلو څخه یادونه شوې ده او له شته نورو اقلیت ډلو څخه په کې یادونه نه ده شوې. خو په عمل کې هېواد کې د اقلیتونو رد او څنګ ته کېدو دوام پیدا کړ.

افغانستان کې څلور لسیزې جګړې او تاوتریخوالي د مختلفو ډلو ترمنځ اختلافونو او یوې کورنی جګړې کې د دولت نړېدو ته لاره پرانیستې، چې جوړښت کې د بدلون او ټولنه کې د مختلفو ډلو اړیکو کې د تغییر لامل شوې ده. د بُن هوکړې چې ۲۰۰۱ کال کې افغانستان کې د دولت بیا احیا لپاره وشوه، د جګړې پایته رسولو لپاره یو ابتکار شمېرل کېده. دغه ابتکار افغانستان کې نسبي ثبات ته لاره هواره کړه، خو ویې نه‌شو کولی د طالبانو په څېر د حکومت ضد ډلې جذب کړي.

[۳] Jawad, Nassim. "Afghanistan A Nation of Minorities." In *Minority Rights Group International Reprot*, Manchester Free Press, ۱۹۹۲

د دغې ستونزې حل لپاره افغان حکومت د جګړې پایته رسولو لپاره د سولې څو ابتکارات په لاره واچول، چې ۲۰۰۵ کال کې د سولې ټینګښت کمیسیون رامنځ ته کولو، ۲۰۱۰ کال کې د سولې عالي شورا جوړولو او ۲۰۱۰ کال کې د قطر دوحه کې د طالبانو د دفتر پرانیستې ته اشاره کولی شو. د ۲۰۱۸ کال لومړیو کې د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني اعلان وکړ، چې حکومت چمتو دی، طالبانو سره د سولې هراړخیزې خبرې پیل کړي. ۲۰۱۸ کال کې د کابل د امنیتي همکاریو او د سولې اعلامیې، ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان په اړه د ژنیو کنفرانس او څو مواردو کې د اوربند اعلان سره یو ځای، د حکومت له لوري طالبانو سره خبرو ته د چمتوالي دغه وړاندیز، د سولې هڅې نورې هم زیاتې کړې، چې پایله کې یې د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ په ۲۹مه، له شپږو میاشتو خبرو وروسته د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ یو مشروط توافق لاسلیک شو.

د ۲۰۲۰ کال له سپټمبر میاشتې راهیسې، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت رسمي پلاوي او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې پیل شوې، چې اوس هم دوام لري. ټولې دغه هڅې د سولې هوکړې ته د رسېدو لپاره یو استثنایي فرصت شمېرل کیږي، چې تمه کیږي په کې د افغانانو په مشروع غوښتنو بحث وشي. البته له کله چې بین‌الافغاني خبرې پیل شوې، یوه جدي اندېښنه دا ده، چې د سولې پروسه به د مسلط اقلیتونو او سیاسي ډلو یوې کوچنۍ کړۍ پورې محدوده پاتې شي، چې په کې به کوچیني اقلیتونه له پامه وغورځول شي. داسې حال کې چې نورو هېوادونو کې د سولې بریالۍ هڅې ښیي، چې د سولې پروسې بریا، د ټولو هغو کسانو د غږ اورېدو لپاره د ډیموکراټیکې فضا رامنځ ته کولو ته اړتیا لري، چې په مستقیم یا غیرمستقیم ډول د سولې پروسه کې اغېز کونکي دي. دغې پروسې څخه د افغانستان د کوچنیو اقلیتونو بهر پاتې کېدل، د اندېښنې وړ خبره ده.

## ۱،۱. د دغې څېړنې موخې

دغه څېړنه د دریو موخو لپاره شوې:

۱) د سولې له پروسې څخه د کوچینو اقلیتونو د اندېښنو او غوښتنو راټولول او تحلیل؛

۲) يوې پراخې سياسي پروسه کې د کوچينو اقليتونو د ښکېلتيا لپاره د لارو درک کولو لپاره هڅه؛
۳) د داسې وړانديزونو وړاندې کول، چې د سولې خبرو او له هغه وروسته وضعيت کې د حل‌لارو پلټلو لپاره ملي او نړيوالو پاليسي جوړونکو سره مرسته وکړي؛

د جامع سولې، رول او د عدالت غوښتو د تګلارو له جزييتاو څخه د اطلاع لپاره، د اقليتونو په ګټه فکر وکړئ، د ۲: په ضميمې سره، د ټول‌شموله سولې لارښوونه.

## ۱,۲. کوچني اقليتونه

مسلط اقليتونه له پښتنو، تاجيکانو، هزاره‌وو او اوزبيکانو څخه عبارت دي، چې د نفوسو شمېر او د تسلط کچه کې توپير سره، د افغانستان د واک پر ډېناميزم او سياست مسلط دي. دغه څېړنه د دغو اقليتونو په اړه نه ده. افغانستان کې هم په علمي کچه او هم د پاليسی جوړونکو ترمنځ، د اقليتونو په اړه د ټولو لپاره د منلو وړ او مشخص تعريف نشته؛ دې سره داسې ښکاري چې اکثره څېړونکي د اقليت او اکثريت ترمنځ د توپير لپاره، د قوم، قبيلې، دين او مذهب له ځانګړنو څخه استفاده کوي.[٤] د مثال په توګه، نه‌شو کولی په اسانۍ سره سني هزاره يا شيعه تاجيک او پښتون طبقه‌بندي کړو. بلوڅان چې له مذهبي نظره اکثريت يې په اهل سنت پورې اړوند دي، خو له قومي اړخه اقليت کې راځي. غيرمسلمان ډلې په ډېره کمه کچه ملي بهيرونو کې شامليږي. عموماً درې لاملونه، د اکثريت او اقليت معيار تشکيلوي: ژبه، نژاد او مذهب.[٥] عين‌حال کې، افغانستان کې مختلط هويتونه هم

[٤] د اقليتونو مطالعې او د تفاوت‌ګذارۍ مسلې لپاره لاندې پته تعقيب کړئ:
Peter, Marsden. "Afghanistan: Minorities, Conflict and the Search for Peace." In Minority Rights Group International Report. p٨; Kaufman, ٢٠٠٠, p٤٤١; Wimmer & Schetter ٢٠٠٣; Roy ١٩٩٥; Dorronsoro ١٩٩٥; Simonsen ٢٠٠٤; Wiliam, Maley. *The Afghanistan Wars*, Palgrave Macmillan. New York City, USA. ٢٠٠٢, p٨; Jogis: Afghanistan's Tiny Stateless Minority Strives to Survive without Rights, Services, available at; https://gandhara.rferl.org/a/jogis-afghanistan-s-tiny-stateless-minority-strives-to-survive-without-rights-services/٣٠٢١٦١٢٠.html

شته، چې څېړونکو تر ډېره د هغوی له مطالعې څخه سترګې پټې کړې دي. اوسنۍ څېړنه د ژبې، قوم، ملیت او مذهبي اقلیتونو په اړه د ۱۹۹۲ کال اعلامیې سره سره همغږې لري، چې څرګندوي، "دولتونه باید خپلو هېوادونو کې له ملي، فرهنګي، دیني او ژبنیو هویتونو څخه چې اقلیت دي، ساتنه وکړي او باید د دغو هویتونو پیاوړتیا لپاره شرایط برابر کړي." ۱۹۷۷ کال کې د فرانسیسکو کپوتورتي تعریف په اساس" اقلیت یوې ډلې څخه عبارت دی، چې د یوه هېواد د نفوس کمه برخه جوړوي او مسلط موقعیت ونه لري او غړي یې داسې حال کې چې د یوه هېواد اتباع دي، نسبت د هېواد نورو اوسېدونکو ته بېلې، قومي، مذهبي یا ژبنۍ ځانګړنې ولري، که څه هم په غیرمستقیم ډول، د خپل فرهنګ، دود مذهب یا ژبې په اساس د همبستګۍ احساس ولري".[٦] د ۲۰۰۴ د افغانستان اساسي قانون کې د څوارلسو قومي ډلو نومونه یاد شوي او د نورو قومي ډلو د نومونو په یادولو سترګې پټې شوي دي.[٧] دغه څېړنه کې هم اساسي قانون کې یادې شوې قومي ډلې شاملېږي او هم د جټانو او جوګي په څېر د دغې خاورې نورې هغه ډلې چې نومونه یې اساسي قانون کې نه دي یاد شوي شاملیږي.[٨] د وروستۍ ډلې په اړه د کډوالو په چارو کې د ملګروملتونو سازمان د عالي کمیشنرۍ رپوټ کې داسې راغلي: "د هویتي اسنادو نه درلود کولی شي، د ملي هویت د اثبات اړوند ستونزو په دلیل، د نهاستقرار خطرونه زیات کړي". د مثال په توګه د جوګي

---

[٥] پیټر مارسډن هم چې ورته یوه دستهبندي وړاندې کوي، استدلال کوي چې افغانستان کې هیڅ قومي ډله د دغه هیواد نیمايي نفوس ته نه رسیږي.هغه همدارنګه وایي، د جګړې په دلیل دغه هیواد کې جمعیتي تغغیراتو په برخه کې باید محتاط ووسو. لاندې وګورئ:

Peter, Marsden. "Afghanistan: Minorities, Conflict and the Search for Peace." In Minority Rights Group International Report, p١٦.

[٦] د اقلیتونو حقوق: نړیوال معیارونه او اجراییوي لارښود، د ملګروملتونو سازمان، ۲۰۱۰

[٧] دغه ډلې عبارت دي له: پښتنو، تاجکانو، هزارهوو، ازبکانو، ترکمن، بلوڅ، پشهیي، نورستاني، ایماق، عرب، قرقیز، قزلباش، ګوجر او براهوي.

[٨] د کډوالو په چارو کې د ملګروملتونو سازمان د عالي کمیسارۍ نظر په اساس، که څه هم افغانستان کې د ځمکې نه لرونکو نفوس په اړه ژوره څیړنه نه ده شوې، خو ښکاره نښې نښانې شته، چې کسان په ځانګړې توګه د جټ قوم غړي، چې جوګي او بنګړیوالان په کې شاملیږي، د مشخص ښاري وضعیت له درلودو پرته، هیواد کې ژوند کوي، چې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ اندېښنه یې راپورته کړې ده. لاندې وګورئ:

United Nations High Commissioner for Refugees for the Office of the High Commissioner for Human Rights' Compilation Report –Universal Periodic Review: AFGHANISTAN, p٣.

کوچیانو، بنګړیوالانو او غربتډلو په شمول د جد قومي ډلو یو شمېر غړي د افغانستان هویتي اسناد (تذکره) نه لري.[۹]

د هغو اقلیتونو له نوملړ او جزییاتو څخه د اطلاع لپاره چې دغه څېړنه کې شامل دي، لومړۍ ضمیمې ته وګورئ.

# ۲.د څېړنې تګلاره

دغه څېړنه کې پراخ موضوعات شاملیږي او یو یوه بشپړه پېچلې څېړنه شمېرل کیږي. د مثال په توګه، د ځمکې نه درلودونکو اقلیتونو په شمول د کوچنیو اقلیتونو تشخیص او مطالعه ستونزمنه او له ننګونو ډکه ده او د باور لوړې سطحې ته اړتیا لري.

دغه مطالعه کې د کمیت او کیفیت دوو ګډې کړنلارې څخه استفاده شوې، ترڅو د افغانستان د سولې پروسه کې د اقلیتونو، له لیدلورو، نظریاتو، غوښتنو او لومړیتوبونو څخه د ژور او پراخ درک وسیله امکانمنونکې شي. (د اطلاعاتو راټولولو وسیلې لیدو لپاره ۲مې ضمیمې ته مراجعه وکړئ.) د دغې ګډې کړنلارې درې ملاحظې عبارت دي له:

۱. د سروې ترسره کېدو له لارې د خپل ځان په اړه د عامه اقلیتونو د متفاوته لیدلورو ترلاسه کول؛

۲. د متمرکزه ډلهییزو بحثونو له لارې د مدني ټولنې د غړو، ځوانانو، زده‌کړیالانو، ولسي شخصیتونو او د ټولنې متنفذینو متنوع او مفصلو لیدلورو ته لاسرسی؛

۳. مهمو خبر شوو سره د مرکې له لارې د متخصصینو په لیدلورو پوهېدل.

---

[۹] هماغه، ص ۷، د جټ په اړه د نویو مالوماتو لپاره لاندې لینک ته ورشئ:
AAN https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/context-culture/citizens-finally-but-no-place-to-settle-the-magats-one-of-afghanistans-most-marginalised-minorities/ (accessed Nov ۲۰, ۲۰۲۰).

دې برخه کې د مالوماتو د راټولولو تګلاره او تحلیل وړاندې کیږي. د څېړنې ځای هغه ۹ ولایتونه دي، چې په کې زیات اقلیتونه ژوند کوي. دغه ولایتونه له، بدخشان، بلخ، بامیان، غور، جوزجان، کابل، ننګرهار، نیمروز او نورستان څخه عبارت دي. کومو اقلیتونو چې دغه څېړنه کې ګډون کړی له، ایماق، عرب، بلوڅ، براهوي، ګوجر، هندو، شیعان اسماعیلي، جد، قرغیز، نورستاني، قزلباش، پشه‌يي، سادات، سیک، ترکمن او وخي څخه عبارت دي. څېړنه کې شامل کسان هم معموله محلي کسان، زده‌کړیالان، متخصصان، د ټولنې متنفذین او اکاډمیکې څېرې دي.

د کوویډ ـ ۱۹ ناروغۍ د خپرېدو په اوج کې، د مالوماتو راټولول ستونزمن وو، خو دغه نه‌وړاندوینه شوی ستونزمن حالت، په تدریج سره د څېړنې علمي اخلاقو ته د څېړونکو د ژمنتیا په دلیل، له مخې لرې شو. د مالوماتو راټولولو له متنوع تګلارې څخه ګټه اخیستل، چې له سروې، مرکو او متمرکزه ډله‌ییزو بحثونو څخه عبارت دي، ډېره ګټوره وه. په ټوله کې د اقلیتونو ۵۹۵ کسانو څخه سروې شوې ده. د محلي اجتماعاتو د مشرۍ نظرونو او لیدلورو تحلیل لپاره متمرکزه ډله‌ییز بحثونه په لوړه سطحه بله وسیله ده. ۹ ولایتونو کې ۵۰ متمرکزه ډله‌ییز بحثونه شوي دي. متخصصانو کې، اکاډمیکې څېرې، د مدني ټولنې فعالان، د سولې متخصصین، حقوقي متخصصین او د دین علما شاملیږي. دغه مرکې ثبت شوې او په جدا توګه څېړنه کې د ګډون کونکو له لوري اجرا شوي دي؛ خو د مقدمې واحده فارمټ، د رضایت وړاندې کول او اصلي او پرانیستې پوښتنې لرې. افغانستان کې ټولشموله سولې ته د لاسرسي تر عنوان لاندې: د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د لمنځه وړلو موسسې لاربښوود کتاب، د مرکو د اساس په توګه په پام کې ونیول شو.

د احصاییې او مالوماتو ملي اداري (NSIA) شمېرو کې د نواقصو د جبران په موخه، د دوو ولسوالیو په ګډون مرکز او د نظر وړ ولایتونو څخه شمېرې ترلاسه شوې: بامیانو کې د شیبر او بدخشان کې د واخان ولسوالۍ. د هرې اقلیت ډلې د نفوس د براورد، د هغوی د ژوند کولو لومړنی ځای، د هغوی د ژوند کولو مهمو ننګونو، مالومات ورکونکو سره د اړیکې جزییاتو، د هغوی د ژوند کولو امنیتي وضعیت او د اقلیت ډلو په تړاو د نورو اطلاعاتو په شمول، د پروژې د ټولو فعالیتونو لپاره اړین مالومات راټول شوي. د مالوماتو دغه ټولګه له څلورو سرچینو څخه راټوله شوې ده:

۱. د سرحدونو او قبایلو وزارت ولایتي ریاست؛

۲. د مرکزي احصاییې ولایتي دفتر؛

۳. د ولایتي شورا غړي؛

٤. د قومي ډلو ځینې ټولنې.

د سروې ګډون کونکو ته د لاسرسي لپاره، طبقه‌بندي شوې تصادفي نمونې اخیستو څخه ګټه اخیستل شوې. دغې تصادفي نمونې اخیستو مرسته وکړه، چې د څېړنې لپاره د نظر وړ ډلې مشخصې شي. د دغې څېړنې ترسره کېدو لپاره څه باندې ۵۹۵ کسان وټاکل شول، ترڅو د اقلیتونو په استازیتوب د سولې پروسې په تړاو خپل لیدلوري وړاندې کړي. د اقلیتونو د تقریبي نفوس په اساس، هرې اقلیت ډلې سره متناسبه طبقه‌بندي وشوه. همدارنګه نسبت هرې اقلیت ډلې ته دغه کار بېلا بېلو ولسوالیو کې د هغوی د نفوس په اساس هم ترسره شو. د هرې ډلې له تعریف وروسته، څېړنې ته ځواب ورکونکي د تصادفي نمونې اخیستو بڼې له لارې وټاکل شول. کورنۍ لومړی غوره شوې او وروسته لومړنی یا دویم کس او یا هم د کورنۍ سرپرست مرکې ته غوره شو.

د څېړنې انسجام څخه د خوندیتوب لپاره ټول اړین اخلاقي پرتکلونه، له مالوماتو څخه نیولې، د څېړنې تر لیدلوري، د څېړنې عملي ترسره کولو، د مالوماتو تحلیل، د ګډونکونکو د باور ترلاسه کولو او د هغوی د هویت خوندي ساتلو په شمول، ټول اعمال او تعقیب شوي. د څېړنې پایلې به د علمي بنسټونو او د معتبره اکاډمیکو ټولنو، چې دې برخه کې لېوالتیا ولري، په واک کې ورکړل شي.

دغه څېړنې یو لړ محدودیتونه هم لري: لومړی، د ارقامو له مخې د افغانستان د اقلیتونو کره شمېر نه دی مشخص. په دې توګه، څېړونکې ډلې له پورته یادو شوو مرکزونو څخه د اطلاع له ترلاسه کولو وروسته، د نمونې حجم د دغو ډلو د تقریبي نفوس پر اساس، انتخاب کړی دی. د دې ترڅنګ، هغو سیمو ته تلل چې د طالبانو په څېر د حکومت مخالفو ډلو په کې حضور درلود، ستونزمن وو. څېړونکې ډله په دې خبره پوهېده، چې دغو سیمو کې اقلیتونه ژوند کوي او شاید هم د سولې خبرو په تړاو بېل نظر ولري، خو د امنیتي ستونزو په دلیل، دغه اقلیت ډلې دغه څېړنه کې نه شاملېږي.

# ۳. د څېړنې اصلي موندنې

دغه برخه کې افغانستان کې د سولې پروسې په تړاو د اقلیتونو د اندېښنو او تمو په اړه د څېړنې مهمې موندنې، هغسې چې لاندې راغلي، وړاندې کیږي.

## ۳,۱. د سولې پروسه کې د اقلیتونو اندېښنې

آنان بخشی از فعالیتهای مربوط به پروسه صلح نبوده اند.

د دغې څېړنې موندنو کې د افغانستان د سولې پروسه کې د کوچنیو اقلیتونو د اندېښنو په اړه په پراخه کچه، مفاهیم او لیدلوري او همدارنګه د هغوی غوښتنې شاملیږي. په ټولیز ډول د اقلیت ډلو غړو د افغانستان د سولې پروسه کې خپلو حقونو، فرصتونو او سیاسي مشارکت ته نه‌پام څخه اندېښنه څرګنده کړې ده. لاندې چوکاټ د ۵۹۵ ځواب ورکونکو د سروې پایله ده، چې په کې ۷۹,۱ سلنه ځواب ورکونکو ویلي، چې هغوی د سولې اړوند فعالیتونو کې یوه برخه نه ده.




*انځور ۱: د سولې پروسه کې د ښکېلو ځواب ورکونکو سلنه*

د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا دوی احساس کوي، چې هغوی یا ټولنو څخه یې د سولې پروسه کې استازیتوب کیږي، یا نه، زیاترو یې ویلي، چې هغوی او ټولنو څخه یې د سولې پروسه کې استازیتوب نه کیږي.




*انځور ۲ : سولې پروسه کې د ښکېلتیا په تړاو د ځواب ورکونکو ټولنو سلنه*

داسې حال کې چې د دغې څېړنې اتیا سلنه ځواب ورکونکو لېوالتیا درلوده، چې په یوه ډول د سولې پروسه کې حضور ولري، د حضور ضرورت یې متمرکزه ډله‌ییزو بحثونو کې هم انعکاس موندلی دی. د مثال په توګه، یوه ځواب ورکونکي وویل: "هره ملي پروسه کې باید د ټولو کسانو په ځانګړې توګه د اقلیتونو غږ واورېدل شي. ټول هغه کسان چې یوه ټولنه کې ژوند کوي، باید اړتیاووې او غوښتنې یې په پام کې ونیول شي. باید داسې څېړنې وشي، چې د خلکو غږ او اندېښنو ته انعکاس ورکړي؛ خو دغه کار تراوسه نه دی ترسره شوی."[10] لکه څنګه چې یو بل ځواب ورکونکی وایي: "تراوسه داسې کوم پروګرام چې د اقلیتونو اندېښنو او ستونزو ته انعکاس ورکړي، نه دی عملي شوی." [11] د دې ترڅنګ، دغه څېړنه کې د سولې پروسې په تړاو د اقلیتونو نورې جدي اندېښنې هم رانغاړل شوې او څېړونکو دې برخه کې لاندې دسته‌بندي ترسره کړې ده.

## أ. د افغانستان د سولې له پروسې څخه د اقلیتونو عمومي اندېښنه

د دغې څېړنې راټول شوي مالومات ښيي، چې افغانستان کې د هېواد د اتباعو او ښاریانو په توګه د اقلیتونو د حقونو او امتیازونو په تړاو ډېرې مشترکې اندېښنې شتون لري. دغه مسایل په وېرې، د امنیت نه‌شتون او له فضا، پخوانۍ سیاسي بې‌ثباتۍ او د سولې مذاکراتو پرمهال د اقلیتونو رنځ

[10] مختلطی از دیدگاه زنان و مردان، بحث متمرکز گروهی، بامیان (۲۰۲۰-۰۸-۱۳)
[11] بحث گروهی متمرکز، غور، دیدگاه مردان (۲۰۲۰-۰۸-۱٦)

پورې اړوندیږي. دغو اندېښنو کې محدودیتونه یا د بیان د ازادۍ مخنیوی، د قربانیانو او ملکي تلفاتو زیاتېدل او یوې واقعي سولې او د پخلاینې پروسې ته د طالبانو د نهژمنتیا په دلیل اندېښنې شاملیږي. په بله وینا، څېړنه کې زیاتره ګډون کونکي د افغانستان د یوه وګړي په توګه، د خپلو سیاسي او مدني ازادیو د له منځه تلو څخه اندېښنه ښیي. د ښوونې او روزنې، امنیت او روغتیايي خدمتونو په څېر، د عامه خدمتونو له لاسه ورکول، له نورو اندېښمنونکو مسایلو څخه دي، چې دغه څېړنه کې ځواب ورکونکو یې په اړه اندېښنه ښودلې ده او باید د سولې پروسه کې دې برخه کې غور اوچت شي.

دغه ډله د ښاریي‌محوره کړنلارې په توګه د واک جوړښت او د سیاسي څېرو په برخه کې اندېښنې لري، چې په پراخه توګه ښاریان له مشارکت څخه محروموي او په دې ترتیب د نورو مسایلو ترڅنګ، ښاریانو له درد او رنځ پرته بل څه نه لري. دې ډلې پورې اړوند ځینې اندېښنې په لاندې ډول دي:

## ۱. امکاناتو او فرصتونو ته د لاسرسي او وېشلو په تړاو ـ مرکزي الګو

دغه الګو، هېواد کې د قومي اقلیتونو د مدني او سیاست مشارکت لاره کې خنډ دی. د څېړنې کیفي مالومات ښیي، هغه اقلیت ډلې چې د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې ژوند کوي، ډېر کم د دې چانس لري، چې پوهه شي، مرکز کې څه تیریږي او سیاست او حکومتولۍ څنګه کیږي. همدارنګه ادعا کیږي چې اقلیتونه پلازمینه کې هېڅ استازی نه لري، چې هغوی څخه استازیتوب وکړي. هغوی خپلو ټولنو کې د سیاست په اړه خبرو کولو څخه وېره لري؛ ځکه امکان شته، چې مرکز کې د مسلط اقلیتونو مشران او یا هم د خپلو ټولنو مشران یې، د دغسې بحثونو پر وړاندې اقدام وکړي. لکه څنګه چې متمرکزه ډلهییزو بحثونو کې ګډون کونکي هغه داسې توضیح کوي: "دغه مشران داسې ښیي، چې د هغوی استازې دي، داسې حال کې چې خلک د هغوی استازیتوب څخه هېڅ ګټه نهویني. هغوی د دغه وضعیت دوام لپاره له زور او فشار څخه کار اخلي."[۱۲] ناامنۍ چې اقلیتونه ورته هېڅ حل‌لاره نه لري، مرکز ته د لاسرسي لپاره بل خنډ دی، د ناامنه سیمو خلک په ډېرو ستونزو

[۱۲] متمرکزه ډلهییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۵)

سره کولی شي، ځانونه پلازمینې ته ورسوي.[۱۳] مالوماتو ته د لاسرسي، حفاظت او امنیت او معتبرو او مشروع حقونو په تړاو د اقلیت ډلو هر غړی دغه ډول لیدلوری لري.

## ۲. اقلیتونو سره د طالبانو چلند

دې برخه کې مالومات ښیي، چې اقلیتونه نسبت هغو مستقیمو خطرونو ته چې هغوی ګواښوي، خاصه اندېښنه لري. لکه څنګه چې یوه متمرکزه ډلهییز بحث کې داسې ویل شوي: که طالبان افغانستان کې د اسلامي امارت او د اوسني حکومت له منځه وړلو په هڅه کې وي، اقلیتونه به ونهشي کولی، چې یوه ښه چاپریال کې کار او زدهکړو ته دوام ورکړي او د هغوی پر ژوند به ډېر محدودیتونه ولګول شي، چې دا لامل کېږي ترڅو هغوی عامه خدمتونو څخه د برخمن کېدو چانس تر ډېره له لاسه ورکړي.[۱۴] همدارنګه هغوی وایي، امکان شته چې طالبان د هغوی حقونو څخه انکار وکړي او فرصتونه ورڅخه واخلي. په همدې ترتیب، امکان شته چې طالبان په خپلو اوسنیو کړو ژمنو عمل ونه کړي. اقلیتونه له دې څخه وېره لري، چې طالبان به د ۱۹۹۶ ـ ۲۰۰۱ کلونو حاکمیت دورې ته ور وګرځي. هغه مهال هغوی سره له دې چې هېواد کې خپله تفرقه اچونکې او اختلاف رامنځ ته کوونکې کړنلاره عملي کوله، خپله ځانګړې ایډیولوژي یې هم حاکمه کړې وه.[۱۵] که چېرې ټاکل شوې وي چې افغانستان کې دوامداره او واقعي سولې په لورې ګام پورته کوي، نو باید دغو وېرو ته پام وشي. د کوچنیو اقلیتونو په تړاو د لیدلورو په برخه کې د افغانانو اخلاف ته باید سیاسي پام وشي، ترڅو د سولې پروسه کې د دغه اختلاف ناوړه پایلې، چې پر ثبات او اقتصادي وضعیت اغېز کوي، راکمې شي. ګډ لیدلوری سیاسي ارادې او د ډولو اړوندو ډلو همکاریو ته اړتیا لري.

## ۳. د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنو ته نهپام

راټوله کړل شوې ډېټا ښیي، چې د اقلیتونو یوه جدي اندېښنه هم احتمالآ د تېرو دوو لسیزو د لاسته راوړنو له پامه غورځول دي. لکه څنګه چې یوه ډلهییز بحث که داسې ویل شوي: "زمونږ اصلي

[۱۳] متمرکزه ډلهییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۵)
[۱۴] متمرکزه ډلهییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۲۰)
[۱۵] متمرکزه ډلهییز بحث، کابل، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۲۰)

اندېښنه تېر ته ور ګرځېدل دي. زمونږ وېره دا ده، چې نسبي شته ثبات به له لاسه ورکړو."[16] " وېره لرو چې وبه نه شو کولی چې یو ښه ژوند ولرو، د درس ویلو او کار کولو توان به ونه‌لرو او مشخصو محدودیتونو سره به مخ شو، دغسې یوه حالت کې تر ټولو زیات زیان اقلیتونو ته رسیږي، ځکه چې اقلیتونه اوس هم خپلو حقونو او امتیازونو ته لاسرسی نه لري."[17] " شته اساسي قانون، د بشر حقونه، د ښځو او ماشومانو حقونه، د تحصیل حق او د نورو ټولنیزو ارزښتونو په ځانګړې توګه نوي ارزښتونه، چې افغانستان له ۲۰۰۱ کال وروسته ورته لاسرسی موندلی، د ځواب ورکونکو د ټینګار وړ دي. پر ځای به وي چې اشاره وکړو، چې دغسې ادعاوې او غبرګ پورته کول په واقعیت کې د هغو کسانو د زړه خبره ده، چې د افغانستان مسلطې اجتماعي تجربې کې یې غبرګ نه دی اورېدل شوی.

## ب. د سولې پروسې په تړاو د اقلیتونو ځانګړې اندېښنې

د اندېښنو پخوانۍ برخه کې عموماً د افغانستان د سولې پروسه کې پر اقلیتونو ټینګار وشو، خو دې برخه کې، د افغانستان د سولې پروسې په تړاو د اقلیتونو ځانګړې اندېښنې وړاندې کیږي.

داسې حال کې چې دغه ښېرنه کې ګډون کونکو په پراخه کچه افغانستان کې د تعصب او تبعیض مسلې ته د یوې شخړې په توګه اشاره کړې، اندېښنه یې دا ده، چې که ټولنیزه او فرهنګي تنوع له پامه وغورځول شي او د سولې خبرو کې د اقلیتونو غبرګ وا نه وربدل شي، وضعیت به نور هم خراب شي.[18] مالومات همدارنګه ښیي، چې اقلیتونه د خپلې ژبې، فرهنګ او سمبولونو په اړه اندېښنه ښیي. د مثال په توګه هغوی اندېښمن دي، چې مورنۍ ژبې ته به یې پام ونه‌شي او تر دې څخه زیات، د هغوی دیني او فرهنګي ارزښتونو ته به درناوی ونه‌شي.[19]

اقلیتونه همدارنګه د واک وېشلو څخه اندېښنه ښیي، هغوی وایي: "تېرو ۱۹ کلونو کې واک او اداره د مسلط اقلیتونو ترمنځ وېشل شوې. البته کوچنیو اقلیتونو ته کمه ونډه ورکړل شوې ده. کولی شو

[16] مترکزه ډله‌ییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۲۰)
[17] مترکزه ډله‌ییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۲۰)
[18] مترکزه ډله‌ییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۵)
[19] مترکزه ډله‌ییز بحث، کابل (۲۰۲۰-۰۹-۰۹)

ادعا وکړو، چې که راتلونکې کې د تېرو دوو لسیزو ورته وضعیت دوام وکړي، اقلیتونه به ورته یوه حالت کې شتون پیدا کړي، انزوا سره به مخ شي او د تبعیض تر دې بد وضعیت به تجربه کړي."[۲۰]

په همدې ترتیب، د سولې خبرو کې د کوچنیو اقلیتونو د استازو نهحضور بله اندېښنه وه، چې وړاندې شوې. متمرکزه ډلهییزو بحثونو کې اکثریت ګډونکونکي په دې باور دي، چې د عدالت غوښتنو نهشتون او د مرکهچي پلاوي په ترکیب کې د اقلیتونو د استازو نشتوالی، مهمه ستونزه ده، چې په مخامخ توګه د سولې له ټولې پروسې څخه د اقلیتونو د څنګ ته کېدو لامل کيږي. اقلیتونو ادعا کوله، چې هغوی هېڅ استازی یا خاص مدافع نه لري، چې د سولې پرېکړه نیونې پروسه کې د هغوی اندېښنې مطرح کړي. د دې ترڅنګ، هغوی استدلال کاوه، چې که د ټولو قومي ډلو اندېښنو ته پام ونهشي، واټن رامنځ ته کوي، چې د اقلیتونو د رد لامل به شي. ظاهرآ مرکهچي ټیم کې منتخب استازي، د اقلیتونو له ټولنو څخه استازيتوب نه کوي. استازيتوب نهشتون ته په پام، اقلیتونه ادعا کوي، چې د سولې داسې خبرو څخه وروسته وضعیت به، چې ټولې خواوې په کې حضور ونهلري، نور هم خراب شي.

دغه څېړنه کې ګډونکونکي همدارنګه استدلال کوي، چې دغه پروسه کې یې استازي حضور نه لري او له حقونو او غوښتنو څخه به یې دفاع ونهشي. دغهراز، هغوی اندېښنه ښيي چې که د سولې خبرې د اقلیتونو له حضور پرته دوام وکړي، هغوی به تراوسه زیات خپلو حقونو او امتیازونو څخه محرومه شي. [۲۱] د یادونې وړ ده چې دغه څېړنه کې ګډونکونکو اقلیت ډلو په ډېر ټینګار سره خپله ناهیلي، وېره او اظطراب بیان کړ. همدارنګه هغوی د سولې روانو جریانونو او خبرو کې په خپلو غوښتنو او هیلو ټینګار کاوه.

د افغانستان د سولې له پروسې څخه د اقلیتونو اندېښنې، زمونږ د سروې د پرانیستو پوښتنو پوښتنلیک کې درج شوې. د دغې پوښتنې پایله ډېرې اندېښنې ښيي. لاندې چوکاټ کې، د ځواب ورکونکو لس مهمې اندېښنې راوړل شوې.

---

[۲۰] متمرکزه ډلهییز بحث، بامیان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۲۲)

[۲۱] متمرکزه ډلهییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۸-۱۶)




*انځور ۳ :سروې څخه اخیستل شوي د سولې پروسې په اړه د اقلیتونو لس اندېښنې*

# ۳,۲.    د سولې پروسه کې د اقلیتونو غوښتنې او لومړیتوبونه

کلیدي مطلعینو سره متمرکزه ډلهییزو بحثونو او مرکو کې د اقلیتونو انعکاس شوې غوښتنې په لاندې دوو برخو او خاصو مواردو وېشل کېږي.

## أ.   د افغانستان د سولې له پروسې څخه د اقلیتونو ټولیزې غوښتنې

### ۱. له ۲۰۰۱ کال وروسته د افغانستان د لاسته راوړنو خوندي ساتل

په ټولیز ډول، څېړنه کې د افغانستان زیانمنونکو اقلیتونو له ډلې څخه ګډون کونکو غوښتنه درلوده، چې د تحصیل او د ښځې او نارینه لپاره د کار حق، د بیان ازادۍ، د رسنیو ازادۍ، بشري حقونو او ارزښتونو، اساسي قانون، دیموکراسۍ، د ماشومانو حقونو، سیاسي او مدني حقونو او د قانون پر وړاندې د برابرۍ حق په څېر، له ۲۰۰۱ کال وروسته د افغانستان لاسته راوړنې دې خوندي وساتل شي. څېړنه کې ګډون کونکو د طالبانو دورې ته په اشارې په پراخه کچه څواب ورکړ، چې هغوی هېڅ یو هم نه غواړي، ترڅو په پورته ارزښتونو معامله وشي. اقلیت ځواب ورکونکو په خاصه توګه د

بیان پر ازادۍ ټینګار کاوه او غوښتنه یې کوله، چې رسنۍ نه باید د سولې پروسه او له سولې وروسته حالاتو کې سانسور شي او د دغې پروسې ټول جزییات دې عوامو سره شریک شي.[22]

ځېرنه کې د ګډون کونکو دغو لیدلورو او باورونو ته په پام، د افغانستان د سولې پروسې په تړاو د کوچنیو اقلیتونو د لیدلورو راټولولو او شرحې، او د اصلاحاتو لپاره، په ځانګړې توګه د سولې پروسه کې د ګډون او اساسي حقونو پېژندلو په اساس د یوه چوکاټ وړاندیز کولو په موخه، د دغې ځېړنې اهداف په اسانۍ د درک وړ دي.

همدارنګه ځېړنه کې ګډون کونکي په دې باور وو، چې د سولې له هر ډول هوکړې وروسته، د وروستیو دوو لسیزو لاسته راوړنو څخه تضمین او خوندیتوب او عامه بنسټونو په ځانګړې توګه ښوونیزو بنسټونو او امنیتي ځواکونو څخه ملاتړ، چې د اقلیتونو او د ټولو افغانانو د ژوند په ښه‌والي کې یې مهم رول لوبولی، ډېر مهم دی. دغه ځېړنه کې د سولې هڅو، قواعدو او نورو اړوندو اقدامونو په اړه د ګډون کونکو د نظر توافق، د دوامداره سولې او ثبات ضامن دی، چې بېلګه یې د لوی تمدن تاریخ کې موندلی شو. دا ټول به د یوې متنوع او له تبعیض څخه د پاکې ټولنې رامنځ ته کولو په برخه کې چې وکولی شي، د سولې لپاره چاپریال برابر کړي، مرسته وکړي.

## ۲. له مدني ټولنې څخه ملاتړ

ځېړنه کې د ګډون کونکو په نظر، "مدني ټولنې د اقلیتونو د مسایلو انعکاس په برخه کې مهم رول درلودلی او د حکومت او خلکو ترمنځ پُل دی".[23] په دې توګه، د اقلیت ډلو غړو متمرکز ډله‌ییز بحث کې، د عدالت غوښتو لپاره د مدني ټولنې له استازو او د اقلیتونو له حقونو څخه د حفاظت لپاره خپل ملاتړ ځرګند کړ. دغه‌راز ګډون کونکو تقاضا درلوده چې د مدني ټولنې فعالانو څخه دې لا زیات ملاتړ او غښتلي دې شي. ځېړنه کې د ګډون کونکو د نظر په اساس، له مدني ټولنې څخه د ملاتړ روحیه او دغه کړنلاره به، د تکثرګرا او له تبعیض څخه د پاکې ټولنې رامنځ ته کولو کې، چې وکولی شي افغانستان کې د سولې لپاره یوه مناسبه فضا رامنځ ته کړي، مرسته وکړي.

---

[22] متمرکزه ډله‌ییز بحث، کابل، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۹-۱۱)
[23] متمرکزه ډله‌ییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۲۰)

## ۳ . د سولې خبرو رهبري

بله غوښتنه چې ښځینه کې د ګډون کونکو له لوري مطرح شوې، د افغان حکومت او ولس له لوري د سولې پروسې مالکیت په اړه وه. راټول کړل شوي مالومات ښیي، چې ښځینه کې اکثریت ګډون کونکي په یوه ډول په دې باور وو، چې "د افغانستان جګړه یوه نیابتي جګړه ده او امکان شته چې سوله هم یوه نیابتي سوله ووسي."[۲۴] د دغه لیدلوري په اساس، اقلیتونه غوښتنه لري، چې باید مهم بهرنیو عواملو ته ځانګړې پام وشي؛ کنه نو، د سولې هڅې به ناکامه پاتې شي. همداراز دغه اندېښنه د نورو غونډو له خوا د ورته نیوکو ښکارندویي کوي، چې که ټاکل شوې وي افغانستان یوې واقعي او باثباته سولې ته لاسرسی پیدا کړي، باید نړیواله حوزه کې د سیاسي او ټولنیزو نظر خاوندانو لیدلورو ته پام وشي.

## ٤. سیمه‌ییزې او نړیوالې همکارۍ

که څه هم متمرکزه ډله‌ییزو بحثونو کې ګډون کونکو اقلیت ډلو، د سولې د پروسې پرمختګ او د افغانانو د مالکیت غوښتنه کوله، همدارنګه ویل یې، د سولې پروسه کې د اقلیتونو له مشارکت او ملاتړ څخه د تضمین لپاره، د افغان دولت د مرکه‌چي ټیم له هڅو سربېره، د نړیوالو مرستې او سیمه‌ییزې همکارۍ ته جدي اړتیا ده، ترڅو یوه تلپاتې او ټولشموله سوله تحقق پیدا کړي. ښځینه کې ګډون کونکو د نظر په اتفاق سره وویل، بهرني لوبغاړي کولی داسې شرایط رامنځ ته کړي، چې د مذاکرې لوري، د سولې خبرو دوام ته وهڅوي، ترڅو داسې یوې هوکړې ته لاسرسی پیدا کړي، چې د خلکو پراخ ملاتړ له ځانه سره ولري. هغوی څرګنده کړه، چې دغه بهرني لوبغاړي د دوامداره سولې مخ ته وړلو کې مهم رول لوبوي. د مثال په توګه، "د اوربند منلو لپاره د فشار راوړل باید لومړی ګام ووسي. مونږ له طالبانو غواړو چې جګړې ته د پای ټکی کېږدي."[۲۵]

دغې سناریو ته په پام، که چېرې هوکړې ان د یوه نوي حکومت رامنځ ته کېدو لامل شي، د سولې پروسه کې او له هغې وروسته د حکومت رامنځ ته کولو کې د ټولو ګډون باید د دواړو مرکه‌چي ډلو

[۲۴] متمرکزه ډله‌ییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۸-۱۶)

[۲۵] متمرکزه ډله‌ییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۹-۱۱)

له لوري تضمین شي. په دې توګه، خبرو کې باید د ټولو اصلي لوبغاړو غږ واورېدل شي او ورته فرهنګي او ټولنیزه فضا برابره شي.

### ۵. له سولې وروسته ټولشموله سیاسي حل‌لار

د خبرېنې ګډون کونکو او همدارنګه کابل او ځینو نورو ولایتونو کې د متمرکزه ډله‌ییزو بحثونو مختصصینو او ګډون کونکو غوښتنه درلوده چې "له سولې وروسته د حکومت اداري باید د خلکو او یا کم له کمه د خلکو استازو له لوري انتخاب شي، ترڅو د یوه ځواب ورکونکو دولت رامنځ ته کول تضمین شي."[۲۶] دغو ځواب ورکونکو په دې باور ټینګار درلود، چې سولې پورې اړوند ټول حکومتي بنسټونه باید په پراخه کچه د خلکو ملاتړ له ځانه سره ولري ترڅو په طبیعي ډول د حکومت ضد عناصرو د انزوا لامل شي. دغې موخې ته د رسېدو لپاره، له سولې وروسته حکومتي بنسټونه دې هم د استازیتوب په صورت اداره شي. ورته حال کې متمرکزه ډله‌ییزو بحثونو کې د ګډون کونکو د ټولو غړو ترمنځ ګډ لیدلوری دا وه، چې له سولې وروسته سیاسي او اداري حل‌لارو کې باید شایسته‌سالاري تضمین شي؛ ځکه د هغوی په ادعا د قومیت پر اساس د واک هر ډول وېشل کولی شي، د کوچنیو اقلیتونو برخلیک او په ټولیز ډول پر ملي پیوستون منفي اغېز وکړي.

## ب. د افغانستان د سولې له پروسې څخه د اقلیتونو ځانګړې غوښتنې

### ۱. د خلکو پراخ مشارکت

راټول کړل شوي مالومات ښیي، چې کوچني اقلیتونه د سولې پروسه کې د خلکو د پراخ مشارکت غوښتونکي دي، نه دا چې یوازې هغه ډلې دې ګډون ولري، چې د خلکو له مختلفو اقشارو څخه استازیتوب نه‌کوي. اقلیتونه د نیوکې په مطرح کولو سره له طالبانو دغه پوښتنه کوي، چې دغه ډله ولې د ځوانانو، ښځو او اقلیتونو په څېر زیان‌منونکي خلک، داسې حال کې چې هڅه کوي د افغانستان د راتلونکې سیاسي حل‌لارې یوه برخه ووسي، له دغه بهیر څخه لرې ساتي؟[۲۷] خبرېنې ښیي، چې د سولې پروسه کې د خلکو پراخه ګډون د سولې هوکړو ته د مشروعیت ورکولو، د لا زیاتو

[۲۶] متمرکزه ډله‌ییز بحث، کابل، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۵)

[۲۷] متمرکزه ډله‌ییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۵)

موضوعاتو د مطرح کولو او راتلونکي حکومت کې به د پراخ سیاسي مشارکت د ظرفیت لوړېدو لامل شي.[۲۸] د ځواب ورکونکو له خوا دغه وړاندې شوې اندېښنې او غوښتنې، د افغانستان د سولې خبرو کې د خلکو د پراخه مشارکت لپاره یو ډول چوکاټ برابروي.

۲۰۰۱ کال کې د بُن هوکړې تجربو ته، چې موخه یې افغانستان کې د یوه دولت رامنځ ته کول وو، دغه ځېړنه کې د ګډون کونکو په ځوابونو کې پراخه انعکاس ورکړل شوی دی. هغوی استدلال کوي چې د بُن هوکړو کې د قومیت پر اساس د واک وېشلو په دلیل نه دي توانېدلي دغه مهمه پروسه کې ونډه واخلي او پایله کې یې هغوی تر نن پورې نه دي توانېدلي، د بُن له هوکړو ګټه واخلي او خپل ژوند او ټولنیز او سیاسي مشارکت کې ښه‌والی راولي. د دغه استدلال په رڼا کې، ځواب ورکونکو ویلي، چې د سولې پروسه باید ټولشموله ووسي او د اقلیتونو غوښتنې دې په پام کې ونیول شي. همدارنګه، هغوی غوارې چې د ښځو او اقلیتونو په ګډون غیرمتخاصم ډلې د سولې خبرو او تحولاتو کې خپل رول ولري. د دې ترڅنګ، ځواب ورکونکو ویلي، چې د خلکو استازي باید خپله د هغوی له لوري انتخاب شي، نه داسې چې د مسلط ډلو له لوري په سنتي ډول عمل کیږي.[۲۹]

## ۲. د اقلیتونو د ګفتمان په لاره اچول

دغه ځېړنه کې ګډون کونکو خپلو ځوابونو کې په دغه واقعیت ټینګار کړی، چې افغانستان کې د قومي اکثریت هېڅ ډله نشته او په دې توګه دغه هېواد له اقلیتونو څخه جوړ شوی. دغه ټولیز لیدلوری چې د اوسنۍ ځېړنې مجموعه ده، د سولې پروسې په خبر د چارو حل لپاره د مشارکت او نه‌مشارکت په ډول د عمده مسایلو په برخه کې پر عمومي ذهنیت اغېزکونکې ده. اقلیتونه تمه لري چې د افغانستان د اقلیتونو مسله په ملي او نړیواله سطحه حل شي، ترڅو د اقلیت مسلط ګفتمان رامنځ ته شي. په دې ډول موضوع د اقلیتونو هویت ته د درناوي مسله ده. نو د افغانستان د قومي ټولنې تنوع ته په پام، اقلیتونه هم د خپلو قومي، نژادي او مذهبي توپیرونو او ارزښتونو څخه د ملاتړ او رسمي پېژندنې غوښتونکي دي.[۳۰] په واقعیت کې، دغه ځېړنه او پایله کې د ځواب ورکونکو د

---

[۲۸] متمرکزه ډله‌ییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۵)

[۲۹] متمرکزه ډله‌ییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۵)

[۳۰] متمرکزه ډله‌ییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۵)

ليدلورو او نظرياتو د پام وړ ټکی، متمرکزه ډله‌ييز بحثونه دي، چې يوې واقعي او دوامداره سولې ته د رسېدو په تړاو ترقي غوښتونکو او راديکالي ميکانيزمونو او بحثونو کې ترسره شوي. ټولې دغو ځرګندونو کې اقليتونو څخه په مساويانه استازيتوب ټينګار شوی، چې په کې هېڅ ډله له ياده ونه وځي او غړي يې چپ نه شي. يو ځل بيا ټينګار کيږي چې د خبرو مېز کې د واقعي استازيتوب حياتي رول، د سولې ټينګښت لپاره د هر ډول ريښتوني ګام کيلي شمېرل کيږي.

## ۳. مثبت تبعيض

دغه څېړنه همدارنګه ښيي، چې سياسي نظام او دولت کې چې په کې د کوچينو قومي، مذهبي او نژادي اقليتونو توپيرونو ته درناوی کيږي، د ټول هېواد په کچه د اقليتونو د مشارکت او انسجام لپاره د فضا برابرولو په موخه، بايد مثبت تبعيض په رسميت وپېژندل شي. د دغې څېړنې په مرکو کې يو شمېر ګډون کونکو متخصصينو ويلي، "د مثبت تبعيض او پلي کولو لپاره يې د پاليسۍ وضع کول اړين دي، ترڅو داړ ترلاسه شي، چې محرومې او څنګ ته کړل شوې ډلې هم د مسلطو ډلو په څېر خپلو فردي او ډله‌ييزو امتيازونو او حقونو څخه د برخمن کېدو چانس لري.[۳۱] دغسې شرايطو کې بيا اقليتونه له خپلو سياسي، مدني او مذهبي ازاديو څخه برخمن کېدی شي. جالبه دا ده چې د افغانستان سنتي ډوله د رنګارنګ ګلونو تنوع څخه جوړه ده، چې يو تکثر کونکی ملت تشکيلوي او بايد سياسي، اقتصادي او ټولنيزو چارو، تردې څخه هم مهم د سولې پروسه کې په رسميت وپېژندل شي. دغه څېړنه کې هڅه شوې چې د ټول افغانستان لپاره د دغې مهمې اندېښنې اړخونه وړاندې او بيان شي.

## ۴. ټولنيزه او فرهنګي تنوع او ټولنيز پيوستون

د ديني او مذهبي تنوع مسله، بل لامل دی چې اقليتونو متمرکزه ډله‌ييزو بحثونو کې ورڅخه يادونه کړې او ويلي، بايد دولت ورته پام او ورڅخه ملاتړ وکړي او ورته لومړيتوب ورکړل شي. د دې ترڅنګ، هغوی څرګندوي چې د اقليتونو باورونه، فرهنګ او دودونه، چې اساسي قانون کې هم ورڅخه ملاتړ شوی، د مثال په توګه، د شيعه‌وو او د اسماعيلي، هندو او سيکانو حقوقو او مذهبي ازاديو ته دې

[۳۱] کليدي مطالعينو سره مرکه

درناوی وشي.[32] ګډون کوونکو متمرکزه ډلهییزو بحثونو کې ۱۹۹۰ لسیزه کې د افغانستان د کورنیو جګړو او د ۱۹۹۶ ـ ۲۰۰۱ کلونو کې د طالبانو د حاکمیت دورې په شمول، تاریخي بحرانونو ته په اشارې د ټولنیزو او مذهبي توپیرونو له پامه غورځول د جګړې اساسي عواملو څخه بولي.[33] په دې توګه، د سولې پروسې او تر هغې وروسته هوکړو کې، دیني، قومي، ژبې او مذهبي تنوع ته باید پام وشي. د افغانستان اساسي قانون کې د خوارلسو قومونو نومونه راغلي، داسې حال کې چې افغانستان کې شته قومونه تر دې زیات دي. همدارنګه لکه څنګه چې څېړنیزو ادبیاتو کې راغلي، د افغانستان متکثره ټولنه کې تر څلوېښتو زیاتې ژبې شتون لري.[34] نو، د خلکو ژبې، قوم یا مذهب ته نه پام، د هغوی د هویت له پامه غورځولو په مانا دی، چې کولی شي د لا زیاتو ټولنیزو شخړو سرچینه شي. په واقعیت کې، همدغه دلایل دي چې اقلیتونه تنوع او تکثر ته د درناوي غوښتنه کوي، چې په کې اقلیتونه په مختلفو مخینو سره وکولی شي، په ارامی او یو د بل منلو کې ژوند وکړي. د افغانستان د اقلیتونو دغه غوښتنې، اندېښنې او لیدلوري افغانستان کې د دوامداره سولې لپاره مناسبه زمینه ده، چې په کې هره سیمه او د هېواد قومي ډله، مرکزي اسیا کې د تمدن څلورلارې په توګه خپل رول ولوبوي. افغانستان باید سیمه کې د تکثر کانون په توګه د مختلفو قومي ډلو ونډه په رسمیت وپېژني او په دغه میکانیزم، د کورنیو شخړو په حل او سولې ته په رسېدو سره، د پرمختګ خوا ته حرکت وکړي.

## ۵. د کوچینو اقلیتونو د ائتلاف یا عالي شورا تشکیل

ځواب ورکونکو په ټینګار سره وویل، چې اقلیتونه مشخص ادرس نه لري، ترڅو له لارې یې خپلې اندېښنې او غوښتنې مطرح کړي. د مثال په توګه، دغو ځواب ورکونکو ادعا درلوده، داسې حال کې چې د ملي شورا جرګې رسماً د خلکو استازي شمېرل کیږي، خو اقلیتونو پورې د اړوندو ستونزو حل تراوسه د دغو جرګو د بحثونو اجنډا کې نه دی شامل شوی.[35] په دې اساس، د هغوی یوه اصلي غوښتنه د اقلیتونو د ائتلاف رامنځ ته کول وو، چې په کې د څنګ ته کړل شوو او کوچینو اقلیتونو

---

[32] متمرکزه ډلهییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۰۵)
[33] متمرکزه ډلهییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۰۵)
[34] لویس او نور، ۲۰۱۳
[35] متمرکزه ډلهییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۵)

ټول استازي د یوه مشروع میکانیزم له لارې چې پر سر یې هوکړه شوې وي، د لاندې مسایلو حل لپاره سره را غونډ شي: ۱). د اقلیتونو د دریځ پر بیانولو بحث او له لارې یې سیاسي تحولاتو کې د هغوی حقونو څخه ملاتړ وکړي؛ ۲) د اقلیتونو غوښتنې او اندېښنې د سولې ښکېلو خواوو ته ورسوي او د اقلیتونو مشارکت تضمین کړي؛ ۳) سیاسي او حکومتي چارو کې د اقلیتونو پراخه ګډون لپاره غږ پورته کولو ته مخه کړي.[36] دا چې د حکومت یا نورو ښکېلو خواوو له لوري دغه اړتیاووې څنګه پوره کیږي، ډېرو څېړنو ته اړتیا لري. د اقلیت ټولنو غړي په دې اړه چې دولت کوم ځانګړی میکانیزم په پام کې ونیسي، د اتفاق وړ لیدلوری نه لري، خو عمومي نظر داسې وو، چې هغوی له حکومت او پراختیایي بنسټونو څخه غواړي، چې د ټولنو او شوراګانو له مشرانو سره په اړیکه کې ووسي.[37]

## ۶. د ټولشموله سولې پروسه

د اقلیت ډلو ځواب ورکونکي له دې واقعیت څخه اندېښمن وو، چې د سولې پروسه کې یې ګډون د بسنې وړ نه دی. ځکه هغوی ادعا درلوده، نه یوازې دا چې د طالبانو له خوا یې رول له پامه غورځول شوی، حکومت هم هغوی ته څومره چې اړتیا وه پام نه دی کړی. یوه ځواب ورکونکي وویل، "مونږ د یوه اقلیت په توګه، ان د سولې پروسه کې سمبولیک حضور هم نه لرو."[38] د اقلیت ډلو له لوري سیاسي او ټولنیزو چارو کې د هغوی محرومیت او څنګ ته کولو په په توګه د مشارکت نه شتون، یوه مشروع او معتبره اندېښنه ده او په دې ترتیب د نابرابرۍ ښکارندویي کوي او د سولې هېڅ ډول خبرو او پروسې کې ګټور نه تماميږي. پر همدې اساس، د سولې خبرو کې نه باید د اقلیتونو ګډون له پامه وغورځول شي. لکه څنګه چې ببلا بېلو سطحو او لوبغاړو سره د یوې مشورتي پروسې مخ ته وړلو کې د ټولیز مشارکت اړتیا توپیر لري، ویل کیږي چې اقلیتونه باید د سولې بهیر کې مختلف او متوالي پروسې په پام کې ونیسي. د دغسې یوې پروسې رامنځ ته کولو لپاره، یوه لاره دا ده چې اقلیتونه کلیو او بانډو کې د ولسوالیو شورګانو له لارې خپلې اندېښنې مطرح کړي او

---

[36] متمرکزه ډلەییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۲۰)

[37] متمرکزه ډلەییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۲۰)

[38] متمرکزه ډلەییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۸-۱۵)

وروسته يې ولايتونو او نورو لوړپوړو چارواکو ته ورسوي. دويمه لاره دا ده، چې هغوی د اقليتونو يوه لويه ډله جوړه کړي، داسې چې اندېښنې او ستونزې يې په مناسب ډول مطرح شي.[39]

دغه واقعيت چې اقليتونه د افغان ټولنې په سياست کې ځای نه لري، ښيي چې فرصتونه او ټولنيز امتيازات په غيرعادلانه ډول وېشل کېږي او په دې توګه، اقليتونه د دولت درې ګونو قوو کې د حضور په شمول د ټولو لپاره د فرصتونو او منابعو وېشلو کې د برابر چلند غوښتونکي دي.[40] د دې ترڅنګ اقليتونه د سولې پروسه کې هم د دغې برابرۍ او عدالت غوښتنه کوي.[41] که چېرې داسې وي چې هم اوږدمهال او هم اوسنيو شرايطو کې د افغانستان د سولې مذاکرات د ټولنيزو اصلاحاتو او ملي پراختيا لپاره پرانيستې فضا رامنځ ته کړي، دغه ديالکتيک نه بايد له پامه وغورځول شي.

پورته اشاره شوو مشاهداتو ته په پام، څېړنه کې ګډون کونکو په کاملاً خاص ډول داسې اسانتياووې چې ممکن يوه ټول شموله سوله يې ولري، مطرح کړې. د مثال په توګه هغوی وويل چې: ۱. د اقليتونو مشارکت به د سولې له هوکړو وروسته د هغوی حقوق تضمين کړي؛ ۲. د شخړې اصلي عواملو ته چې معمولاً مغفول پاتې کيږي، لاسرسی وشي او د کلونو تاوتريخوالي په دليل زيانمنې شوې اړيکې به بيرته ښې شي؛ ۳. لکه څنګه چې هوکړه د ښکېلو خواوو ترمنځ ارتباط رامنځ ته کوي، شونې ده چې د اساسي قانون د بياکتنې لامل شي. په دې اساس، د خلکو پراخه ګډون به جامعيت تامين کړي؛ ۴. دغه جامعيت د سولې خنډونه کومې.

## ۷. د سولې ټينګښت لپاره د ارزښت لرونکې فضا رامنځ ته کول

د سولې د برياليتوب کچې او د هوکړو د دوام پوښتنې په ځواب کې، متخصصينو سره له مرکو څخه ترلاسه شوې مالومات ښيي، چې د سولې د هڅو مثبتو پايلو کې څو عوامل اغېزناکه دي. که څه هم سياسي او ټولنيز چاپريال داسې دی، چې ممکن سوله ترلاسه نه شي، چې خلک هوساينې او له تاوتريخوالي څخه منع کولو ته اړ کړي. متخصصينو او همدارنګه ګډون کونکو متمرکزه ډلهييزو بحثونو کې اشاره درلوده، چې د سولې چاپريال رامنځ ته کولو کې يو څو عوامله مرسته کوي، دغه

[39] متمرکزه ډلهييز بحث، بدخشان، له نارينه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۸)

[40] متمرکزه ډلهييز بحث، بدخشان، له نارينه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۸)

[41] متمرکزه ډلهييز بحث، بدخشان، له نارينه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۸)

عوامل عبارت دي له: ۱) د جګړې لګښت او د ټولو ښکېلو خواوو ترمنځ چې له افغان حکومت څخه استازيتوب کوي، د سولې‌لار نقشې پر سر هوکړه؛ ۲) د سولې له هڅو او سولې پورې اړوندو بنسټونو څخه د خلکو ملاتړ؛ ۳) د افغان سولې په تړاو سيمه‌ييزه اجماع؛ ۴) د ښې حکومتولۍ پياوړتيا او فساد سره مبارزه؛ څکه د نورو پرلپسې عواملو ترمنځ، د دولتي خدمتونو وړاندې کولو کې فساد او ناکامي هم، د جګړې له عواملو څخه شمېرل کيږي؛ ۵) د ټولو وګړو په ځانګړې توګه د هغو اقليتونو چې د افغان جګړې او سياسي بهيرونو کې د نه‌مشارکت په دليل يې لويه بيه ورکړې، غږ دې واورېدل شي؛ ٦) د اقليتونو پر وړاندې اعمال شوې ناروا تبعيضونه دې له منځه يوړل شي؛ ۷) له سولې وروسته سياسي حل‌لارو کې، دولتي موقعيتونه دې نه يوازې مسلطه اقليتونو ته، بلکې د برابر چانس پر اساس، ټولو ته په برابر ډول ووېشل شي؛ ۸) داسې کړنلاره دې غوره شي، چې لامل کيږي هېواد کې واک او صلاحيت له ملي سطحې څخه ولايتونو او محلونو ته ولېږدول شي؛ ۹) د خلکو لپاره د کاري فرصتونو برابرول؛ ۱۰) بې‌وسلې کول، ملکي غښتلتيا او د سولې احتمالي هوکړو اجرا کېدو لپاره مجدد ادغام؛ ۱۱) د قانون او د عدالت تضمين پر وړاندې برابري؛ ۱۲) د داسې شرايطو برابرول چې ډولې متخاصم ډلې ځانونه په کې ګټونکي احساس کړي. ياني د ګټلو ـ ګټلو ستراتيژۍ، نه د ګټلو ـ او بايللو ستراتيژي.[٤٢]

## ۸. د يوې دوامداره سولې تضمين

اقليتونو د جګړې لورو په ځانګړې توګه د سولې احتمالي هوکړې د لاسليک کونکي په توګه د طالبانو د عملي ژمنو په تړاو خاصې اندېښنې مطرح کړې. لکه څنګه چې د طالبانو زياتره خوښې شوي طالب جنګيالي بيرته د جګړې ليکو ته ورغلي، د اقليت ډلو غړي د رښتت او د سولې ټينګښت په برخه کې د طالبانو د لا زياتې ژمنتيا غوښتونکي دي. دغه غوښتنه ځکه جدي ده، چې اقليت ډلې پخوا وختونو کې د طالبانو له لوري ډېرې ځورول شوي دي. نو، اقليتونه له نړيوالو ملاتړ او د افغانستان له شريکانو څخه غواړي، چې پر طالبانو فشار وارد کړي، چې د واقعي سولې لپاره په خپلو ژمنو عمل وکړي.

[٤٢] کابل، بلخ، جوزجان کې کليدي مطلعينو سره مرکه (۲۰۲۰-۰۷-۱۵-۱۲)

همدارنګه دغه څېړنه کې د پرانیستې سروې د پوښتنو په ځواب کې د اقلیت ډلو پر غوښتنو ټینګارل شوی دی. د څېړنې پایله کې لا زیاتې غوښتنې مطرح شوي دي. لاندې چوکاټ یوازې د هغوی لس مهمې غوښتنې ښیي.




*انځور ٤ بسروې څخه را اخیستل شوې د سولې پروسه کې د اقلیتونو لس عمده غوښتنې*

## ۳,۳. د اقلیتونو د مشارکت میکانیزم: څېړنه کې د ګډون کونکو وړاندیزونه او نظرونه

لاندې موارد هغه مراحل دي، چې د اقلیتونو د وړاندیزونو په اساس د هغوی د مشارکت میکانیزم ښیي. د مشارکت نور میکانیزمونه مو د څېړنې د وړاندیزونو په برخه کې راوړي دي.

### أ. د اقلیتونو د یوه ائتلاف یا عالي شورا رامنځ ته کول

له څېړنې څخه را ایستل شوې مالومات ښیي، چې خلک مختلفو ستراتیژیو ته اشاره کوي، چې کېدی شي هغو څخه د سولې پروسه کې د اقلیتونو ښکېلولو لپاره ګټه واخیستل شي. یوه ستراتیژي دا ده، چې د اقلیتونو لویه شورا یا د اقلیتونو لوی ائتلاف جوړ او ورڅخه ملاتړ وشي، ترڅو اقلیتونه وکولی شي، له لارې یې خپل لیدلوري، اندېښنې او غوښتنې مطرح کړي. د دغسې یوه فرصت په شتون سره، اقلیتونه به په خپل نفس لا ډېر باور پیدا کړي، چې اندېښنو ته یې ځنګه چې اړتیا ده

لاسرسی کېږي او په دې اساس، د سولې سیاسي مذاکراتو او د بدلون بهیر کې د حکومت له لوري د هغوی د ټولنو په رسمیت پېژندو څخه ډاډ ترلاسه کوي. په اصل کې، دغه شورا کولی شي د اقلیتونو له حقونو او ګټو څخه په دفاع او ملاتړ کې غښتلی او اغېزناکه رول ولوبوي. د دې ترڅنګ، ځواب ورکونکو وړاندیز وکړ، چې د ولسمشر یا د سولې شورا مشر له خوا د فرمان ورکول، د حکومت رسمي دریځ ښکاره کوي او د سولې پروسه کې د اقلیتونو مشارکت تسهیلوي.[43]

## ب. د مدني ټولنې او رسنیو فعالیتونه

د دې ترڅنګ، مدني ټولنه هم کولی شي چې د اقلیتونو او اړوندو مسوولینو ترمنځ اړیکه ټینګه کړي، همدارنګه مدني بنسټونه د غږ اوچتولو له لارې د اقلیت ډلو د اندېښنو طرحه کولو او د حکومت او اقلیتونو یو ځای کولو لپاره رول ولوبوي. اقلیتونه وړاندیز کوي، چې د ښکېلتیا او د عدالت غوښتو لپاره یوه ممکنه لاره دا ده، چې "اقلیتونه خپل لیدلوري او اندېښنې په مدني او سوله‌ییز ډول د ټولنیزو رسنیو له لارې مطرح کړي. دغه کار به هغوی سره مرسته وکړي، چې د خپلو لیدلورو طره کولو کې نورو ډلو سره سیالی ته مخه کړي".[44] ویل کېږي چې ټولنیزو رسنیو څخه پراخه ګټه اخیستنه، د اقلیتونو له حقونو څخه د ملاتړ لپاره تر ټولو ګټوره لاره ده: "مونږ کولی شو د ټولنیزو رسنیو کانالونو او د مدني ټولنې استازو له لارې مذاکراتو او د سولې خبرو کې ګډون وکړو."[45] همداراز، متمرکزه ډله‌ییزو بحثونو کې اقلیتونه هم په دې باور وو، چې که دریځ جامع او غوندې داسې وي، چې هغوی وکولی شي د مقالو په چاپولو او خپرولو سره خپل موقف ته دوام ورکړي او د محلي او ملي رسنیو له لارې پوښښ ورکړل شي، هغوی توانېدلي، چې د سولې خبرو کې رول ولوبوي. په اصل کې، د سولې د رواني پروسې تحولاتو کې د ګډون لپاره د چمتوالي دا اعلان، د افغانستان د پرمختګ په برخه کې په ملي او ټولنیزه سطحه د عضویت او مشارکت لپاره د اقلیتونو د واقعي لېوالتیا ښکارندویي کوي. همدارنګه، اقلیتونه، دولت ته د هغوی د اندېښنو د رسولو واسطې په توګه د مدني ټولنې د رول په رسمیت پېژندو سره، اقلیت ډلو مهمو ټولنیزو بنسټونو سره د

[43] متمرکزه ډله‌ییز بحث، جوزجان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۱۸)
[44] متمرکزه ډله‌ییز بحث، بلخ، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۲۰)
[45] متمرکزه ډله‌ییز بحث، بدخشان، له نارینه او ښځو څخه ګډ (۲۰۲۰-۰۷-۰۵)

رېبنتونې همکارۍ لپاره خپله لېوالتیا او علاقه ښودلې ده، چې د ملي پیوستون او ټولنیز پرمختګ لپاره مثبت او هیله‌بښتونکی ګام دی.

## ج. له اقلیتونو څخه د ملاتړ لپاره د خپلواکه بنسټونو د ظرفیت لوړول

مهمه ده چې څارونکي بنسټونه غښتلي شي، ترڅو پر شوو اقدماتو نظارت وکړي او د سولې پروسه کې د اقلیتونو غږ ته انعکاس ورکړي او حکومت ته یې هم ورسوي. د مثال په توګه، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون یا دغې موضوع پورې اړوند د کوم بل کورني یا بهرني سازمان په څېر یو خپلواکه بنسټ کولی شي، د بهیر له ښه‌والي سره مرسته وکړي او د دغه ډول عدالت غوښتونکو میکانیزمونو او غونډو شفافیت او موثریت نو هم زیات کړي.[٤٦] له دې سربېره، د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون څخه جدی غوښتنه کیږي، چې خپل یو کمیشنر د اقلیتونو مسایلو ته د رسېدو لپاره موظف کړي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کې ځینو کمیشنرانو ته ځانګړې دندې سپارل شوي، خو د اقلیتونو له حقونو څخه د دفاع لپاره هېڅ کمیشنر ته دنده نه ده‌ورکړل شوې. په دې اساس، وړاندیز دا دی، چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د زیانمنونکو اقلیتونو له حقوقو څخه ملاتړ، حفاظت او تحقیق، خپل یوه کمیشنر ته وسپاري او یا د اقلیتونو د ټولو حقونو او موضوعاتو څېړلو لپاره یوه خاصه برخه جوړه کړي. په اقلیتونو پورې اړوند دغه ځانګړی واحد دې حکومت او نورو غیر دولتي بنسټونو سره یو ځای، افغان حکومت او ټولنه کې د اقلیتونو د (سیاسي او اقتصادي) مشارکت تامین په موخه، اداري او فني ملاتړ برابرولو لپاره په دوامداره توګه کار وکړي. دغه ډول بنسټونه کولی شي، اقلیتونو سره اړیکه ټینګه کړي او هغوی د خپلو ډیموکراتیکو او ښاریي حقونو په اړه خبر کړي.

[٤٦] کلیدي مطلعینو سره مرکه، کابل (۲۰۲۰-۰۹-۱۳)

# وړاندیزونه

څنګه چې پورته وویل شول، د دغې څېړنې موندنې د لاندې وړاندیزونو زمينه برابروي. افغان حکومت او نړیواله ټولنه دې دغو مهمو وړاندیزونو ته جدي پام وکړي:

- د سولې پروسه کې د اقلیت‌محوره کړنلارې غوره کول: لکه څنګه چې د نړیوالو کنوانسیونونو پر اساس د اقلیتونو حقوق او ازادیو ته درناوی کیږي، ډېره مهمه ده، چې افغان دولت، نړیواله ټولنه او طالبان نسبت د سولې خبرو ته، په ملیت، قوم، ژبې او مذهبي اقلیتونو پورې د تړلو اشخاصو حقونو په تړاو د ملګروملتونو د ۱۹۹۲ کال د ډیسامبر ۱۸مې اعلامیې، د سیاسي او مدني حقونو نړیوال تړون او د ۱۹۸۱ کال د اسلامي بشر حقونو نړیوالې اعلامیې ته په پام، اقلیت‌محوره کړنلاره ولري.
- د سولې روانو خبرو او له هغې وروسته حل‌لارو کې د څنګ ته کړل شوو ډلو یا کوچنیو اقلیتونو ښکېلتیا او د هغوی د ګټو، اندېښنو او هیلو په پام کې نیول، اساسي ارزښت لري.
- راتلونکې کې پر اساسي قانون احتمالي بیا کتنه باید د ټولو ډلو په ځانګړې توګه د اقلیتونو د شمولیت پر اساس وشي. د اساسي قانون د بیاکتنې میکانیزم کې باید د کوچنیو اقلیتونو په شمول د اقلیتونو استازې شامل ووسي.
- په ملي سطحه د اقلیتونو د ائتلاف یا لویې شورا (د افغانستان د اقلیتونو ملي ائتلاف) جوړول او ورڅخه ملاتړ، چې د اقلیتونو په ګټه د لابیګرۍ په برخه کې د پلټفورم په توګه عمل وکړي.
- د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په څېر د خپلواکه بنسټونو ظرفیت لوړولو ته جدي اړتیا ده، ترڅو له لارې یې د سولې پروسه کې د څنګ ته کړل شوو اقلیتونو له غوښتنو، اندېښنو او لومړیتوبونو څخه اړین او بالقوه ملاتړ وشي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کې تراوسه د اقلیتونو مسایلو لپاره کوم ځانګړی واحد نه‌شته. ورته یو واحد کولی شي د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون له لوري هم رامنځ ته شي.

- ملي پخلاینه او عدالت: داسې حال کې چې د سولې پروسه کې د ټولو افغان لورو ښکېلتیا اړینه ده، له سولې وروسته د حل‌لارې لپاره، د افغانستان د قضاییه قوې تر نظارت لاندې د یوه خپلواک بنسټ رامنځ ته کولو ته اړتیا ده، ترڅو څېړنه وکړي او د بشر ضد جرایمو او جنګي تاوتریخوالي په برخه کې عدالت تطبیق کړي. د جګړې قربانیانو او تل‌پاتې سولې لپاره انتقالي عدالت ضروري دی.

# کتاب پېژندل


١. Barfield, Thomas. Afghanistan in the Twentieth Century: State and Society in Conflict. Princeton University Press, ٢٠٠٢.

٢. Burgess, Heidi “Peace Process”. Beyond Intractability. ٢٠٠٤. https://www.beyondintractability.org/essay/peace_processes

٣. Collins, Joseph. Understanding War in Afghanistan. National Defense University Press. Washington, D.C. ٢٠١١

٤. Dubow, Benjamin. Ethnicity, Space and Politics in Afghanistan, University of Pennsylvania, Penn Libraries, ٢٠٠٩.

٥. Galtung, J, and Dietrich F. "Positive and negative peace." In Johan Galtung, pp. ١٧٣-١٧٨. Springer, Berlin, Heidelberg, ٢٠١٣.

٦. Goulding, Marrack. "Public participation and international peacemaking." Owning The Process: Public Participation In Peacemaking. Accord ١٣, ٢٠٠٢.

٧. International Alert. “What is Peacebuilding?”. Available at: https://www.international-alert.org/what-we-do/what-is-peacebuilding

٨. Islamic Republic of Afghanistan, Constitution of Islamic Republic of Afghanistan.٢٠٠٤.

٩. Jawad, Nassim. “Afghanistan A Nation of Minorities.” In Minority Rights Group International Reprot, Manchester Free Press,١٩٩٢.

١٠. افغانستان کې وروستی قرغیز، کاظمی سید رضا:

٢٠١٢ <https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/context-culture/on-the-roof-of-the-world-the-last-kyrgyz-in-afghanistan/> (accessed Nov ٢٠, ٢٠٢٠)

١١. Khadija Hossaini and Thomas Ruttig, AAN, ٢٠٢٠ https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/context-culture/citizens-finally-but-no-place-to-settle-the-magats-one-of-afghanistans-most-marginalised-minorities/ (accessed Nov ٢٠, ٢٠٢٠)

١٢. Lewis, M. P., Simons, G. F., & Fennig, C. D. (٢٠١٣). Ethnologue: Languages of the World, Texas: SIL International

١٣. Maley, Wilaim. The Afghanistan Wars, Palgrave Macmillan. New York City, USA. ٢٠٠٢

١٤. Marsden, Peter. “Afghanistan: Minorities, Conflict and the Search for Peace.” In Minority Rights Group International Report.

١٥. Minority Rights Group https://minorityrights.org/minorities/uzbeks-and-turkmens/ (accessed Nov ٢٥, ٢٠٢٠)

١٦. Minority Rights Group, ٢٠١٧, https://minorityrights.org/minorities/jogi-chori-frosh/ (accessed Nov ١٠, ٢٠٢٠)

١٧. Nilsson, D., ٢٠١٢. Anchoring the peace: Civil society actors in peace accords and durable peace. International Interactions, ٣٨(٢), pp.٢٤٣-٢٦٦.

١٨. Paffenholz, T. and Ross, N., ٢٠١٥. Inclusive Peace Processes—An Introduction. Development Dialogue, ٦٣(Part ١), pp.٢٨-٣٧.

١٩. Paffenholz, T. and Ross, N., Preventing violence through inclusion: from building political momentum to sustaining peace, Inclusive Peace & Transition Initiative (IPTI), November ٢٠١٧.

٢٠. Qizilbash, Gujur, Wakhi and other minorities see <https://joshuaproject.net/people_groups/١٤٤٩٨/AF> (accessed Dec ٠١, ٢٠٢٠)

٢١. Sadr, Omar. "Afghanistan, The vulnerabilities of Minorities." In South Asia State of Minorities Report ٢٠١٦, Mapping the Terrain. Action Enterprise, Banglore, India, ٢٠١٦.

٢٢. د جمهوري اسلامي افغانستان اساسي قانون، ٢٠٠٤

٢٣. طلوع‌نیوز:

٢٠١٦ https://tolonews.com/afghanistan/nearly-٩٩-hindus-sikhs-left-afghanistan-last-three-decades (accessed Dec ٠٤, ٢٠٢٠)

٢٤. United Nations, ٢٠١٢. The United Nations Guidance for Effective Mediation.

٢٥. United Nations High Commissioner for Refugees for the Office of the High Commissioner for

٢٦. Human Rights' Compilation Report –Universal Periodic Review: Afghanistan.

# ١ ضمیمهٔ: دغه څېړنه کې د شاملو اقلیتونو نوملړ او شرحه

## ترکمن

ترکمنان تر ډېره د افغانستان شمال کې مېشت دي، د افغانستان د ترکمنانو منشا د مرکزي اسیا ترک قبائل دي.[٤٧] که څه هم د مرکزي احصاییې په کار کې د نیمګړتیاوو په دلیل د ترکمنانو د نفوس کره شمېر مالوم نه دی، خو د اقلیتونو له حقونو څخه د دفاع ډلې د شمېرو په مطابق، د ترکمنانو تقریبي نفوس، د ټول هېواد د نفوس ۳ سلنه جوړوي.[٤٨] د ترکمنانو د سیاسي او اقتصادي حضور کچې په اړه هم باید ډېرې څېړنې وشي. ترکمنان سني مسلمانان او د حنفي مذهب پیروان دي، ژبه یې هم ترکمني ده، چې د پنځو نورو هغو ژبو په ډله کې چې اکثریت خلک پرې خبرې کوي، د دریمې رسمي ژبې په توګه پېژندل کیږي.[٤٩]

[٤٧] Peter Marsden, Peter. "Afghanistan: Minorities, Conflict and the Search for Peace." In *Minority Rights Group International Report*, p١٠.

[٤٨] Peter Marsden, Peter. "Afghanistan: Minorities, Conflict and the Search for Peace." In *Minority Rights Group International Report*, p١٠.

[٤٩] قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان، مادهٔ ١٦.

## اسماعیلي

شیعه اسماعیلي مسلمانانو کې، تاجک، هزاره او پامیري قومي ډلې شاملېږي. د دغې ډلې غړي مختلط هویت لرونکي کسان دي. د اسماعیلي شیعه‌وو د ژوند کولو اصلي ځای، د سالنګ لارې شمال او شمال لویدیځ؛ یانې د کابل ـ مزارشریف لویې‌لارې په اوږدو کې د هندوکش جبال سلسلې څخه. د شیعه اسماعیلي د پام وړ شمېر د هېواد شمال ختیځو سیمو کې هم ژوند کوي.[۵۰]

## بلوڅ او براهوي

نسیم جواد د بلوڅ او براهوي جمعیت څخه تقریباً کره شمېره وړاندې کړې ده، چې د هغه د ادعا له مخې شاوخوا ۳ سوه زره کسان دي. هغوی سویلي او سویل لویدیځو سیمو کې ژوند کوي. بلوڅ او براهوي د سني مذهب پیروان دي او په بلوڅي او براهوي ژبه خبرې کوي.[۵۱] بلوڅ او براهوي خلک د نورو اقلیتونو په څېر ځنګ ته کړل شوي قومي ډلو څخه دي، چې د تبعیض ګواښ سره مخ دي. د مثال په توګه، تر کومه ځایه چې په ژبې پورې تړاو لري، هغوی د طالبانو د حاکمیت پرمهال مجبوره وو، چې په پښتو ژبه خبرې وکړي، نه په خپله مورنۍ ژبه.[۵۲]

## نورستاني

نورستانیان د افغانستان ختیځ کې لرې پرتو درو او د بدخشان سویل کې ژوند کوي. د نورستان قبایل هر یو یې ځان ته بیل فرهنګ او ژبه لري او خپل نسب د سکندر سپاهیانو ته رسوي.[۵۳] نورستانیانو د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې کله چې امیر عبدالرحمان خان په نورستان، چې مخکې کافرستان بلل کېده برید وکړ، د بت‌پرستۍ دین یې خوشې کړ او په زوره مسلمانۍ ته اړ ایستل

[۵۰] Jawad, Nassim. "Afghanistan A Nation of Minorities." In *Minority Rights Group International Reprot*, Manchester Free Press,۱۹۹۲.

[۵۱] هماغه، ص ۱۲

[۵۲] هماغه، ص ۱۲

[۵۳] هماغه، ص ۱۲

شول او سیمه یې هم نورستان ونومول شوه. نورستانیان تر هرڅه مخکې د وزو روزلو له لارې د خپل ژوند اړتیاووې پوره کوي.[٥٤]

د نورستانیانو نفوس شاوخوا سل زره کسان اټکل کیږي، چې تر ډېره د افغانستان ختیځ او د کونړ د پښتو ترمنځ، د پاکستان د چترال کالاشها او د افغانستان شمال کې د بدخشان تاجکانو کې ژوند کوي.[٥٥] نورستانیان په نورستانې ژبه خبرې کوي.

## قزلباش

قزلباش د افغانستان کوچنیو اقلیتونو څخه دي، چې د شیعه دولس امامي مذهب پیروان دي. زیاتره قزلباشان ښار مېشتي دي او د افغانستان د اداري برخې په لوړو بستونو کې یې کار کړی دی. د افغانستان قزلباشان، کابل، هرات، لوګر او مزارشریف کې او همدارنګه د مرکزي افغانلستان ځینو سیمو کې ژوند کوي، چې ژبه یې دري ده.[٥٦]

## قرغیز

د قرغیز کوچي قبایل د افغانستان د بدخشان واخان ولسوالی کې ژوند کوي. دین یې اسلام او نفوس یې نژدې دوه زره کسانو ته رسیږي او په قرغیزي ژبه خبرې کوي.[٥٧]

## ایماق

که څه هم افغانستان کې د ایماق قوم کره شمېر نه دی مالوم، خو اټکل کیږي چې نفوس یې شاوخوا شپېته زره کسانو ته رسیږي، چې د هېواد لویدیځ او شمال لویدیځ کې ژوند کوي.[٥٨]

---

[٥٤] هماغه، ص ١٢

[٥٥] هماغه، ص ١٢

[٥٦] Qizilbash in Afghanistan, <https://joshuaproject.net/people_groups/١٤٤٩٨/AF> (accessed Dec ٠١, ٢٠٢٠).

[٥٧] هماغه، ص ١٢

[٥٨] هماغه، ص ١٢

## سیکان او هندوان

سیکان او هندوان افغانستان کې تر ټولو منزوي قومي او دیني ډلو څخه دي، چې په خاص ډول ورسره تبعیض شوی او ځپل شوي دي. د هغوی د انزوا او پر وړاندې یې د تبعیض د اعمال یو مهم دلیل، د هغوی نژاد او باورونه دي. د طلوع‌نیوز د څېړنیز رپوټ په اساس، چې د ۲۰۱٦ کال جون میاشت کې خپور شو، دې وروستیو دریو لسیزو کې ۹۹ سلنه هندوان او سیکان افغانستان څخه وتلي دي.۱۹۸۰ لسیزې کې د افغانستان د هندوانو او سیکانو نفوس ۲۲۰ زره کسانو ته رسېده. دغه شمېر بیا ۱۹۹۰ لسیزه کې کله چې د مجاهدینو دوران وو ۱۵زره کسانو ته کم شو او ۲۰۱٦ میلادي کال کې د افغانستان د هندوانو او سیکانو نفوس یو زر او ۳۵۰ کسانو ته ورسېده[۵۹] او دغه کموالي همداسې دوام وکړ.

## پشه‌یي

د افغانستان یو بل اقلیت پشه‌یي دی او په پشه‌یي ژبه خبرې کوي، چې څلور لهجې لري. پشیان ځینې وخت خپلو څلورګونو لهجو کې د تفهیم او تفاهم لپاره له پښتو ژبې څخه استفاده کوي. هغوی د سني مذهب پیروان دي او تر ډېره لغمان، کاپیسا او ننګرهار کې ژوند کوي.

## واخي

افغانستان کې واخیان د بدخشان غرونو کې د واخان لرې پرتو درو کې کوچنیو کلیو کې ژوند کوي. واخیان د واخان سیند غاړو ته ٦۴ کلیو کې بدوباش لري. قرغیزیان لوړو غرنیو سیمو او واخیان یو څه رالاندې سیمو کې ژوند کوي. واخیان تر ډېره اسماعیلي شیعه دي. ځینې یې سني مذهب او یو شمېر یې هم دولس امامي شیعه دي. د واخیانو نفوس ۲۱زره کسان اټکل شوی او ژبه یې هم واخي ده.[٦۰]

[۵۹] هماغه، ص ۱۲
[٦۰] هماغه، ص ۱۲

## ګوجر

ګوجر له دريو نژدې قبيلو څخه تشکيل شوي، چې په مجموع کې «راجستاني ګوجر» نومول کيږي. ګوجر افغانستان، پاکستان او د هند شمال ختيځو ايالتونو کې ژوند کوي. افغانستان کې زياتره ګوجر سيار ډلې دي، چې د کور وسايلو پلورلو او جوړولو، د موسيقۍ غږولو، سوداګرۍ او فال بينۍ له لارې خپلې اړتياووې پوره کوي. ګوجر د هند ـ اريايي ژبې يوې څانګې، ګوجري ژبه خبرې کوي. د افغانستان ګوجر په پښتو او دري هم خبرې کوي او مسلمانان دي.[٦١]

## عربان

د افغانستان عربان په کندوز، تخار او بغلان کې ژوند کوي. د عربانو کوچنۍ ډلې په فارياب ولايت کې هم اوسيږي. عربان د اسلام د سني مذهب پيروان دي او په دري او ازبکي ژبه خبرې کوي. هغوی ځانونه عرب بولي، که څه هم د خوارلسمې پېړۍ له وروستيو راهيسې، د منځنۍ ختيځ عربانو سره د هويت هېڅ ايړکه نه لري او په عربي ژبه هم خبرې نه شي کولی.[٦٢]

## د ساداتو قومي ډله

افغانستان کې د اقليت يوه ډله هم سادات ده، چې د ټول هېواد په کچه د نورو قومونو ترمنځ په تيت پرک ډول ژوند کوي او د سني مذهب، د دولس امامي او اسماعيلي شيعه‌وو پيروان دي. د سادات هويت هغه مهال غښتلی شو، چې هغوی د ۲۰۱۸ کال مې مياشت کې له حکومت څخه وغوښتل، چې سادات قوم په الکترونيکي تذکره کې ذکر شي.

## جوګيان او جټان

افغانستان د قومي او مذهبي اقليتونو څخه د جوړ هېواد په توګه داسې وګړي هم لري، چې مشخصې ځمکې نه لري. د ټول هېواد په کچه ځمکه نه لرونکي خلک، جوګيان دي، چې د

[٦١] افغانستان کې ګوجر، <https://joshuaproject.net/people_groups/۱۷۵٤۹/AF>

[٦٢] http://countrystudies.us/afghanistan/٤٤.htm (accessed Nov ۲۵, ۲۰۲۰)

بنګړیوالانو په جمعیت پورې تړلې دي، او د هېواد له اقلیتونو څخه شمېرل کېږي. ویل کیږي چې جوګیان او بنګړیوالان نیمه کوچي خلک او د جټانو اقلیت پورې اړوند دي، چې په ترتیب سره ځانونه په تاجکستان او پاکستان پورې تړلې بولي او د تاریخ په اوږدو کې یې افغانستان او ګاونډیو هېوادونو کې تل فصلي کډوالي کړې ده. د نورو اقلیت ډلو په څېر د جوګیانو کره شمېر هم نه دی مالوم؛ دې سره، اټکل کیږي چې جټان او جوګیان له شل تر دېرش زره پورې کسه نفوس لري. ویل کیږي، چې جوګیان سني مذهبه او دري ژبي دي.[٦٣]

دغه واقعیت چې هغوی تراوسه تذکره نه لري او انزوا کې پاتې شوي، خپله د دې ښکارندویي کوي، چې اقلیت ډلې څنګ ته کړل شوي دي. سره له دې چې دغه ډلې له نورو قومي ډلو سره د ژبې او مذهب له اړخه اشتراکات لري، خو په دې دلیل چې نیکونه یې له نورو ځایونو راغلي، یو ډول تبعیض سره مخ دي. ۲۰۱۱ کال کې د یونسکو د مطالعاتو پر اساس، چې کابل او مزارشریف کې شوي، ۸۰ سلنه دغه ډلې هېڅ ډول د پېژندګلوی اسناد نه لري. ځینې هغه رپوټونه چې وایي ۸۳ سلنه یې د پېژندګلوی اسناد لري، د کوچیانو په نوم بیان شوي، چې متفاوته قومي ډله ده. په ټولیز ډول د څېړونکو لپاره د غیرښاریي ډلو د ډولونو تفکیک ډېر ستونزمن دی؛ ځکه د مشخصې ځمکې نه درلودونکي خلک، مهاجر او کوچیان د قومي ډلې په توګه یا ان پناه اخیستونکي نه شمېرل کیږي. دغه ډله د غیرښاریي کسانو تر ټولو ټیټه برخه کې راځي

# ۲ ضمیۀ: د مالوماتو راټولولو وسیله

## ۲٫۱ ضمیمه: د ګروپي مرکې لارښوود

### معرفي او د رضایت ترلاسه کول

زما نوم ________________ دی او د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي له منځه وړلو موسسې/ د مدني ټولنې او د بشر د حقونو شبکې سره د څېړونکي په توګه کار کوم. دواړه بنسټونه غیرانتفاعي سازمانونه دي.

### د څېړنې موخه

[٦٣] افغانستان کې ګوجر، <https://joshuaproject.net/people_groups/۱۷۵٤۹/AF>

د پروژې د یوې اجزا په توګه، مونږ د سولې پروسه کې د قومي او مذهبي اقلیتونو مشارکت په اړه یوه جامع څېړنه ترسره کوو. د دغې څېړنې موخه د سولې پروسې په اړه د دغو ډلو د غوښتنو او نظرونو په اړه پوهېدل او د سولې پروسې اجنډا کې د هغوی د غوښتنو شاملولو لپاره غږ پورته کول دي.

مونږ د قومي او مذهبي اقلیت ډلو له غړو سره ګروپي بحثونه ترسره کوو او غواړو د سولې روانې پروسې په اړه ستاسو تجربو او نظرونو او پر زیان‌منونکو ډلو او اقلیتونو یې د اغېزو په اړه پوه شو. ستاسو نظرونه او وړاندیزونه به مونږ سره عدالت غوښتو کې مرسته وکړي، ترڅو د سولې پروسه کې د قومي او مذهبي اقلیتونو د غوښتنو شاملولو لپاره هڅې وکړو.

مخکې له دې چې ډله‌ییز بحث پیل کړو، زه باید د دغې څېړنې په اړه تاسو سره یو څو اخلاقي موضوعات شریک کړم.

- هیله ده په یاد ولرئ، چې دغه ډله‌ییز بحث کې ستاسو ګډون داوطلبانه دی؛
- هر وخت چې وغواړې تاسو کولی شئ له خبرو څخه صرف نظرو کړئ؛
- ستاسو نظرونه محرم دي او د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د له منځه وړلو موسسه/ د مدني ټولنې او د بشر د حقونو شبکه ستاسو مالومات له نورو سره نه شریکوي؛
- د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د له منځه وړلو موسسه/ د مدني ټولنې او د بشر د حقونو شبکه د هغو مالوماتو خپرولو کې چې تاسو یې دې مرکه کې بیانوي، ستاسو نوم نه ذکر کوي؛
- تاسو مونږ ته اجازه راکړئ چې خبرې ثبت کړو. ثبت شوی غږ له پورته مواردو پرته د بلې هېڅ موخې لپاره نه کارول کیږي، او موسسې پورې اړون یوه مصئون کمپیوټر کې ساتل کیږي.

که چېرې کوم نظر او یا اندېښنه ولرئ کولی شئ ما او یا زما له همکارانو سره اړیکه ونیسئ. زما د سوپروایز شخصي مالومات داسې دي:

د ولایتي مسوول د اړیکې شمېره:

د ولایتي مسوول ایمیل:

د څېړنې د مسوول ایمیل:

وړاندې له دې چې بحث پیل کړو، ایا ما څخه کومه پوښتنه لرئ؟

### د ډېټا تنظیم او مدیریت لپاره عمومي مالومات

د څېړونکي نوم: ______________

د ګروپي مرکې نېټه: ____________

ولایت: __________________

ولسوالی / ناحیه: ______________

ګروپي مرکه کې د ګډون کونکي مشخصات

د یوه ګډون کونکي د ټیلیفون شمېره: ____________________

| شمېره | د ګډون کونکي نوم | عمر | جنسیت | د زده کړو کچه | قومیت | ډنده | مذهب/دین[64] |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | |
| ۵ | | | | | | | |
| ۶ | | | | | | | |
| ۷ | | | | | | | |
| ۸ | | | | | | | |
| ۹ | | | | | | | |
| ۱۰ | | | | | | | |

## پوښتنې

### لومړۍ برخه: د سولې روانه پروسه

١. د سولې اوسنۍ پروسې په اړه مو ټولیز نظر څه دی؟ (**تعقیبي پوښتنې:** د ځواب ورکونکي د ځواب په نظر هغه څخه وضاحت وغواړئ.)

٢. وړاندې شوي پرېزنټېشن ته په پام، د قومي/مذهبي اقلیت په توګه ستاسو په نظر د سولې یوه پروسه باید څنګه ووسي؟

٣. تاسو د یوه قومي اقلیت په توګه، تر کومه اندازه ځان د سولې اوسنۍ پروسه کې شامل بولئ؟ (**تعقیبي پوښتنې:** څنګه؟ د سولې پروسه کې د خپل مشارکت ډول بیان کړئ. هغه بحث ته په پام چې پرېزېنټېشن کې مو د مشارکت سطحې په برخه کې درلود، د سولې پروسه کې د خپل شمولیت مثالونه بیان کړئ.)

٤. ایا د سولې پروسه کې ستاسو د شمولیت کچه کافي ده؟ (**تعقیبي پوښتنې:** که هو وي، څنګه؟ که نه وي، ولې؟ ستاسو په نظر د یوه اقلیت په توګه د سولې پروسه کې کوم عوامل ستاسو د ګډون مخه نیسي؟ څه باید وشي، ترڅو دغه خنډونه لرې شي؟)

٥. د سولې پروسې په اړه ستاسو اندېښنې او د سولې له پروسې څخه مو غوښتنې څه دي؟

٦. د یوه اقلیت په توګه ستاسو لومړیتوبونه، چې باید د سولې هوکړه کې په پام کې ونیول شي، څه دي؟ (**تعقیبي پوښتنې:** کوم عمده ټکي باید د سولې هوکړه لیک کې شامل شي؟)

### دویمه برخه: د سولې پروسې پړاوونه (له خبرو وړاندې، د خبرو پرمهال، له خبرو وروسته)

[64] در صورت که این سوال حساسیت ایجاد کند نپرسید.

۷. ستاسو په نظر، ایا د امریکا او طالبانو ترمنځ او وروسته د طالبانو او افغان دولت ترمنځ د سولې خبرې به د تلپاتې سولې لامل شي؟ (**تعقیبي پوښتنې:** ولې دغسې فکر کوئ؟ د یوه اقلیت په توګه ستاسو په نظر، د دغې پروسې د قوت او ضعف ټکي کوم دي؟)

۸. د سولې له هوکړې وروسته باید څه وشي، ترڅو سوله تلپاتې ووسي او جګړه دوام ونه کړي؟

## دریيمه برخه: د سولې پروسې لوبغاړي (په ملي، د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په سطحه)

۹. د سولې لوبغاړو له ډلې څخه چې پرېزنټېشن کې وړاندې شول، کوم یو یې په ملي، د ولایت، ولسوالۍ او کلي په سطحه مهم دی؟ او ولې؟

۱۰. د دغو لوبغاړو په ډله کې، تاسو د یوه اقلیت په توګه، ځان چرته وینئ؟

۱۱. تراوسه د خپلو اندېښنو شریکولو او د مطالباتو درج لپاره، په کومه اندازه له دغو لوبغاړو سره په اړیکه کې یاست؟

## څلورمه برخه: د غیر اوچتولو چوکاټ: اندېښنه، مطالبات او د غیر پورته کولو وسیلې

۱۲. هغه بحث ته په پام چې پرېزنټېشن کې مو د عدالت غوښتو د کړنلارو او وسیلو په اړه وکړ، کومې وسیلې کولی شي د سولې پروسه کې د یوه اقلیت په توګه ستاسو د حقونو شمولیت، د اندېښنو له منځه وړلو او د مطالباتو درج لپاره ګټور ثابت شي؟)

۱۳. که د هغو فعالیتونو یو څو بېلګې را ته ووایاست چې تاسو (یا کوم چا/ کومې ډلې چې تاسو یې پېژنئ) د سولې پر پروسې د اغېز کولو لپاره ترسره کړي وي.

۱۴. د شخړو حل لپاره د تر ټولو غوره لارې په اړه، چې تاسو یې خپل ولایت یا ولسوالۍ کې لرئ او کولی شئ شخړه حل کړې راته ووایاست، ترڅو د سولې په پروسه کې ورڅخه کار واخیستل شي.

## پنځمه برخه: د سولې پروسه کې د ګډون مکانیزم

۱۵. نورو هېوادونو کې د سولې پروسه کې د ګډون کړنلارې ته په پام، چې پرېزنټېشن کې وړاندې شو، کومه کړنلاره کولی شي، د یوه اقلیت په توګه ستاسو لپاره د سولې پروسه کې ګټور واقع شي؟ او ولې؟

۱۶. ولې به افغانستان کې ......................کړنلارې کار ور نه کړي؟ (لطفاً هغه کړنلاره چې هغوی یې نه ذکر کوي یا وایي موثره نه ده، دغه برخه کې ویوښتئ.)

**د څېړونکي لپاره نوټ:** کړنلارې عبارت وې له: مخامخ استازیتوب، نظارت، مشاوره، تولیز مشارکت، جمعي پرېکړه نیونې او جمعي اقدام

منبه کوم ستاسو له ګډون څخه دي دغه بحث کې. کوم مالومات چې مو وړاندې کړل ډېر ګټور وو. وړاندې له دې چې بحث ختم کړو، ایا بحث پورې مرتبط مطلب شته، چې پوښتنه مې نه وي کړې او تاسو وغواړئ مونږ سره يې شريک کړئ؟

سلامت اوسئ!

## ۲،۲ ضمیمه: متخصصینو سره د مرکې لارښوود

### معرفي او رضایت ترلاسه کول

زما نوم ________________ دی او د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي له منځه وړلو موسسې/ د مدني ټولنې او د بشر د حقونو شبکې سره د څېړونکې په توګه کار کوم. دواړه بنسټونه غیرانتفاعي سازمانونه دي.

### د څېړنې موخه

د پروژې د یوې اجزا په توګه، مونږ د سولې پروسه کې د قومي او مذهبي اقلیتونو مشارکت په اړه یوه جامع څېړنه ترسره کوو. د دغې څېړنې موخه د سولې پروسې په اړه د دغو ډلو د غوښتنو او نظرونو په اړه پوهېدل او د سولې پروسې اجنډا کې د هغوی د غوښتنو شاملولو لپاره غږ پورته کول دي.

مونږ د سولې پروسې په اړه باخبره چارواکو او اشخاصو سره مرکې ترسره کوو او غواړو د سولې روانې پروسې په اړه ستاسو تجربو او نظرونو او پر زیان‌منونکو ډلو او اقلیتونو يې د اغېزو په اړه پوه شو. ستاسو نظرونه او وړاندیزونه به مونږ سره عدالت غوښتو کې مرسته وکړي، ترڅو د سولې پروسه کې د قومي او مذهبي اقلیتونو د غوښتنو شاملولو لپاره هڅې وکړو.

مخکې له دې چې ډله‌ییز بحث پيل کړو، زه باید د دغې څېړنې په اړه تاسو سره يو څو اخلاقي موضوعات شريک کړم.

- هیله ده په یاد ولرئ، چې دغه مرکه کې ستاسو ګډون داوطلبانه دی؛
- هر وخت چې وغواړي تاسو کولی شئ له خبرو څخه صرف نظرو کړئ؛
- ستاسو نظرونه محرم دي او د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د له منځه وړلو موسسه/ د مدني ټولنې او د بشر د حقونو شبکه ستاسو مالومات له نورو سره نه شریکوي؛
- د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د له منځه وړلو موسسه/ د مدني ټولنې او د بشر د حقونو شبکه د هغو مالوماتو خپرولو کې چې تاسو يې دې مرکه کې بیانوي، ستاسو نوم نه ذکر کوي؛
- تاسو مونږ ته اجازه راکړئ چې خبرې ثبت کړو. ثبت شوی غږ له پورته مواردو پرته د بلې هېڅ موخې لپاره نه کارول کیږي، او موسسې پورې اړون یوه مصئون کمپیوټر کې ساتل کیږي.

که چېرې کوم نظر او یا اندېښنه ولرئ کولی شئ ما او یا زما له همکارانو سره اړیکه ونیسئ. زما شخصي مالومات داسې دي:

د مرکه کونکې د اړیکې شمېره:

د مرکه کونکي ایمیل:

د څېړنې د مسوول ایمیل:

وړاندې له دې چې بحث پیل کړو، ایا ما څخه کومه پوښتنه لرئ؟

## د ډیټا تنظیم او مدیریت لپاره عمومي مالومات

د څېړونکي نوم: ________________

د ګروپي مرکې نېټه: ______________

ولایت: ____________________

ولسوالی / ناحیه ________________

**د مرکه کېدونکي شخصي مالومات:**

| | | |
|---|---|---|
| نوم: | عمر: | جنس: نر/ ښځه |
| دنده: | قومیت: | شغل |

د ټیلیفون شمېره: ____________________

## پوښتنې

### لومړۍ برخه: د سولې روانه پروسه

١. د سولې اوسنۍ پروسې په اړه مو ټولیز نظر څه دی؟ (**تعقیبي پوښتنې:** د ځواب ورکونکي د ځواب په نظر هغه څخه وضاحت وغواړئ.)

٢. ستاسو په نظر د سولې یوه پروسه باید څنګه یوه پروسه وي؟

٣. څومره ډاډه یاست چې طالبانو سره د سولې هوکړه به افغانستان کې جګړه ختمه کړي؟ ولې؟

٤. ایا تراوسه د افغانستان مسلط او غیرمسلط اقلیتونو لپاره د سولې پروسه ټولشموله ده؟
(**تعقیبي پوښتنې:** که هو وي، څنګه؟ که نه وي، ولې؟ د ټولشمولیت په اړه مثالونه ورکړئ؟
که ټولشموله نه وي، کوم عوامل د سولې پروسه کې د غیرمسلط اقلیتونو ګډون پر وړاندې خنډ جوړوي؟ څه باید وشي، ترڅو دغه خنډونه لرې شي؟)

٥. د غیرمسلط اقلیتونو لومړیتوبونه چې باید د سولې پروسه کې په پام کې ونیول شي کوم دي؟

٦. د سولې پروسې په اړه د هغوی اندېښنې څه دي؟ هوکړه لیک کې باید کوم بدلونونه ځای پر ځای شي، ترڅو غیرمسلط اقلیتونه په کې خپل غږ، د اندېښنو له منځه وړل او خپل لومړیتوبونه ووینې؟

### دویمه برخه: د سولې پروسې پړاوونه (له خبرو وړاندې، د خبرو پر مهال، له خبرو وروسته)

۷. ستاسو په نظر، ایا د امریکا او طالبانو ترمنځ او وروسته د طالبانو او افغان دولت ترمنځ د سولې خبرې به د تلپاتې سولې لامل شي؟ (**تعقیبي پوښتنې:** ولې دغسې فکر کوئ؟ ستاسو په نظر، د دغې پروسې د قوت او ضعف ټکي کوم دي؟)

۸. د سولې له هوکړې وروسته باید څه ترسره شي، ترڅو سوله تلپاتې ووسي او جګړه دوام ونه کړي؟

## درېیمه برخه: د سولې پروسې لوبغاړي (په ملي، د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په سطحه)

۹. افغانستان کې د سولې محلي، ملي، سیمه‌ییز او نړیوال لوبغاړي څوک دي؟

۱۰. د دغو لوبغاړو ترمنځ، تاسو د افغانستان د غیرمسلط اقلیتونو ځای چرته وینئ؟ (تعقیبي پوښتنې: د هغوی د اندېښنو شریکولو او د مطالباتو درک کولو لپاره، هغوی تر کومې کچې دغو لوبغاړو سره اړیکه نیولې ده؟)

## څلورمه برخه: د غږ اوچتولو چوکاټ: اندېښنه، مطالبات او د غږ پورته کولو وسیلې

۱۱. د عدالت غوښتو کومې وسیلې کولی شي د سولې پروسه کې د افغانستان د غیرمسلط اقلیتونو د حقونو شمولیت، د اندېښنو له منځه وړلو او د مطالباتو درج لپاره ګټور ثابت شي؟)

۱۲. که افغانستان کې غیرمسلط اقلیتونو د سولې پر پروسې د اغېز کولو لپاره یو لړ فعالیتونو ترسره کړي وي، یو څو بېلګې یې را ته ووایاست.

۱۳. د شخړو حل لپاره د تر ټولو غوره لارې په اړه، چې ولایتونو یا ولسوالیو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي او کولی شي، شخړه حل کړي راته ووایاست، ترڅو د سولې په پروسه کې ورڅخه کار واخیستل شي.

۱٤. د دې لپاره چې د سولې اوسنۍ پروسه د افغانستان غیرمسلط اقلیتونو لپاره ټولشموله کړي، د څه ډول میکانیزم او کړنلارې وړاندیز کوئ؟ (تعقیبي پوښتنې: کوم کارونه هغوی ترسره کولی شي؟ د مدني ټولنې، مطبوعاتو، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او نورو کوم کارونه د هغوی لپاره ترسره کولی شي؟)

مننه کوم ستاسو له ګډون څخه دې دغه بحث کې. کوم مالومات چې مو وړاندې کړل ډېر ګټور وو. وړاندې له دې چې بحث ختم کړو، ایا بحث پورې مرتبط مطلب شته، چې پوښتنه مې نه وي کړې او تاسو وغواړئ مونږ سره یې شریک کړئ؟

سلامت اوسئ!

## ۲٫۳ ضمیمه: د سروې لپاره پوښتنلیک

## معرفي او د رضایت ترلاسه کول

زما نوم (**خپل نوم ووایاست**) دی او د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي له منځه وړلو موسسې سره د څېړونکي په توګه کار کوم.

## هدف این تحقیق

د پروژې د یوې اجزا په توګه، مونږ د سولې پروسه کې د قومي او مذهبي اقلیتونو مشارکت په اړه یوه جامع څېړنه ترسره کوو. د دغې څېړنې موخه د سولې پروسې په اړه د دغو ډلو د غوښتنو او نظرونو په اړه پوهېدل او د سولې پروسې اجنډا کې د هغوی د غوښتنو شاملولو لپاره غږ پورته کول دي.

مونږ د قومي او مذهبي اقلیت ډلو له غړو سره مرکې ترسره کوو او غواړو د سولې رواني پروسې په اړه ستاسو تجربو او نظرونو او پر زیانمنونکو ډلو او اقلیتونو یې د اغېزو په اړه پوه شو. ستاسو نظرونه او وړاندیزونه به مونږ سره عدالت غوښتو کې مرسته وکړي، ترڅو د سولې پروسه کې د قومي او مذهبي اقلیتونو د غوښتنو شاملولو لپاره هڅې وکړو.

مخکې له دې چې مرکه پیل کړو، زه باید د دغې څېړنې په اړه تاسو سره یو څو اخلاقي موضوعات شریک کړم.

- - لطفاً په یاد ولرئ، چې دغه مرکه کې ستاسو ګډون داوطلبانه دی؛
- - هر وخت چې وغواړې تاسو کولی شئ له خبرو څخه صرف نظرو کړئ؛
- - ستاسو نظرونه محرم دي او د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د له منځه وړلو موسسه ستاسو مالومات له نورو سره نه شریکوي؛
- - د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د له منځه وړلو موسسه د هغو مالوماتو خپرولو کې چې تاسو یې دې مرکه کې بیانوي، ستاسو نوم نه ذکر کوي؛

وړاندې له دې چې مرکه پیل کړو، ایا ما څخه کومه پوښتنه لرئ؟

## د سروې کونکي لپاره لارښوونې:

- د هرې پوښتنې په پیل او پای کې ستاسو لپاره د قوس () په دننه کې لارښوونې درکړل شوې، چې یوازې ستاسو د مالوماتو لپاره دي، ترڅو پوښتنه په سمه توګه مطرح کړئ. هغه د سروې کېدونکې کس لپاره مه لولئ.
- ټولې هغه پوښتنې چې پیل کې ځانګړې لارښوونې نه لري باید **له ټولو څخه** وپوښتل شي.
- د پوښتنو د ځواب انتخابولو لپاره باید د هرې پوښتنې **مخکې عدد** څخه **حلقه** تاوه کړئ.
- ټولې هغه پوښتنې چې د ځوابونو په برخه کې ځانګړې لارښوونه نه لري، یوازې او یوازې باید **یو ځواب** څخه حلقه تاوه شي.
- کومې پوښتنې چې په پای کې یې لیکل شوي (**څو ځوابه**) سروې کېدونکې کولی شي له یوه ځواب زیات وړاندې کړي.
- له ځواب پرته هېڅ پوښتنه د منلو وړ نه ده او که نه باید وپوښتل شي، **"نه دی پوښتل"** شوي څخه حلقه تاوه کړئ.

## D.مردم نګاري پوښتنې

**D-١** د ځواب ورکونکي جنسيت څخه دي: (پوښتنه نه کيږي.)

| | |
|---|---|
| نارينه | ١ |
| ښځه | ٢ |

**D-٢** اوس څو کلن یاست ؟ (که چیرې ځواب ورکونکی، د خپل کره عمر په اړه مالومات نه لري، د اټکل له مخې يې عمر لاندې وليکئ. لطفاً عمر په عدد وليکئ نه په حروفو)

| | | |
|---|---|---|
| کلن | | |

**D-٣** تر کومې کچې مو تحصيل کړی دی؟ (لاندې موارد د ځواب ورکونکي لپاره ونه لولئ)

| | |
|---|---|
| هېڅ کله ښوونځي ته نه يم تللی | ١ |
| کور کې غير رسمي زده کړې او يا د سواد زده کړې ټولګي | ٢ |
| مدرسه کې اسلامي لوړې زده کړې | ٣ |
| لومړنی ښوونځی (نه بشپړ) له (١ -٥) پورې ټولګی | ٤ |
| لومړنی ښوونځی ( بشپړ) تر ٦ ټولګي پورې بشپړ | ٥ |
| منځنی ښوونځی ( نه بشپړ) له (٧-٨) پورې ټولګی | ٦ |
| منځنی ښوونځی (بشپړ) د ٩ ټولګي پای | ٧ |
| د لېسې ښوونځی (نه بشپړ) له (١١-١٠) پورې ټولګی | ٨ |
| د لېسې ښوونځی (بشپړ) (١٢ ټولګی) | ٩ |
| ١٤ ټولګی نهبشپړ (١٣ ټولګی) | ١٠ |
| ١٤ ټولګی بشپړ (١٤ ټولګی) | ١١ |
| د پوهنتون لوړې زده کړې نه بشپړ (ډيپلوم مې نه دی ترلاسه کړی) | ١٢ |
| د پوهنتون لوړې زده کړې بشپړې (ډيپلوم مې ترلاسه کړی) | ١٣ |
| تر ليسانس لوړې زده کړې | ١٤ |
| انکار | ٩٨ |
| نه پوهېږم | ٩٩ |

**D-٤** ستاسو دنده څه ده؟ (لاندې موارد د ځواب ورکونکي لپاره ونه لولئ، نظر په ځواب، د ځواب ورکونکي مطلوبې ټاکنې څخه حلقه تاوه کړئ.)

| | |
|---|---|
| متقاعد یم | ١ |
| د کور مېرمن يم | ٢ |
| زده کونکی يم / محصل يم | ٣ |
| کروندګر ( د ځمکې خاوند / کوم کروندګر چې خپله ځمکه کې کار وکړي) | ٤ |

| | |
|---|---|
| د کروندې کروندګر (د نورو څمکه کې) | ٥ |
| محلي مزدور، او یا غیرفني کارګر | ٦ |
| ازاد پلورونکی / سوداګري | ٧ |
| فني کارګر (تجربه لرونکی) هنرمند | ٨ |
| د دفتر کارکونکی /کاتب، مامور | ٩ |
| شخصي کارکونکی /کاتب، مامور | ١٠ |
| دولتي دفتر/ اجرائیوي مدیر | ١١ |
| شخصي دفتر / اجرائیوي مدیر | ١٢ |
| مسلکي یا تخنیکي کارګر / ازاد کار | ١٣ |
| د کوچنۍ سوداګرۍ خاوند | ١٤ |
| د ښوونځي ښوونکی | ١٥ |
| د پوهنتون استاد | ١٦ |
| نظامي/ پولیس | ١٧ |
| بیکاره یم | ١٨ |
| نور ( ولیکئ: ............................) | ٩٦ |
| انکار | ٩٨ |
| نه پوهېږم | ٩٩ |

**D-٥** ستاسو مدني حالت څه دی؟ (لاندې موارد د ځواب ورکونکي لپاره ونه لولئ، نظر په ځوابد ځواب ورکونکې مطلوبې ټاکنې څخه حلقه تاوه کړئ.)

| | |
|---|---|
| مجرد | ١ |
| متاهل | ٢ |
| کونډ ـ کونډه | ٣ |
| مطلقه | ٤ |
| انکار | ٩٨ |
| نه پوهېږم | ٩٩ |

**D-٦** ستاسو قومیت څه دی؟ (لاندې موارد د ځواب ورکونکي لپاره ونه‌لولئ.)

| | |
|---|---|
| ترکمني | ١ |
| بلوڅ | ٢ |
| قرغیز | ٣ |
| نورستاني | ٤ |

| | |
|---|---|
| ایماق | ۵ |
| عرب | ٦ |
| پشه‌یي | ٧ |
| سادات | ٨ |
| قزلباش | ٩ |
| بیات | ١٠ |
| گوجر | ١١ |
| پامیري | ١٢ |
| هندو | ١٣ |
| سیک | ١٤ |
| جوگی | ١٥ |
| دیگر(بنویسید: ..........................................) | ٩٦ |
| انکار | ٩٨ |
| نمیدانم | ٩٩ |

**D-٧** ستاسو دین/ مذهب څه دی؟ (که چېرې دغه پوښتنه حساسیت پاروي، له پوښتلو یې تېر شئ)

| | |
|---|---|
| مسلمان سنی مذهب | ١ |
| مسلمان شیعه مذهب | ٢ |
| مسلمان شیعه اسماعیلیه | ٣ |
| هندو/سیک | ٤ |
| دیگر(بنویسید: ..........................................) | ٩٦ |
| انکار | ٩٨ |
| نمیدانم | ٩٩ |

### Q. د نظرسنجۍ پوښتنې

**Q-١** لطفا هغه څه بیان کړئ چې د سولې اوسنۍ پروسې په اړه پوهېږئ، (ځوابونه مه لولئ، د ځواب ورکونکي ځواب ته ښه ځیر شئ او د ویلو په صورت کې لاندې یوه موارد څخه کړی تاوه کړئ.څو ځوابونه).

| | |
|---|---|
| د امریکا او طالبانو هوکړه | ١ |
| د زندانیانو خوشې کول | ٢ |
| د افغان دولت د سولې باصلاحیته بنسټون | ٣ |
| قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر | ٤ |
| د سولې بین‌الافغاني خبرې | ٥ |
| اوربند / د تاوتریخوالي کمول | ٦ |

| | |
|---|---|
| د مرکه‌چي ټیم ټاکل | ۷ |
| د سولې خبرو ځای | ۸ |
| نور (ولیکئ: ..........................................) | ۹۶ |
| انکار | ۹۸ |
| نه پوهیږم | ۹۹ |

**Q-۲** تر کومه اندازه هیله‌مند یاست چې د سولې روانه پروسه به هېواد کې د دوامداره سولې لامل شي؟

| | |
|---|---|
| ډېر هیله‌مند یم | ۱ |
| تر یوه حده هیله‌مند یم | ۲ |
| نه هیله‌مند یم او نه هم بد بینه | ۳ |
| تر یوه حده بد بینه یم | ٤ |
| ډېر بد بینه یم | ٥ |
| انکار | ۹۸ |
| نه پوهیږم | ۹۹ |

**Q-۳** هغه څخه چې تراوسه طالبانو سره د سولې پروسه کې پېښ شوي، څومره د خوښۍ احساس کوئ؟

| | |
|---|---|
| ډېر خوشاله یم | ۱ |
| تر یوه حده خوشاله یم | ۲ |
| نه خوشاله یم او نه هم ناراحته | ۳ |
| تر یوه حده ناراحته یم | ٤ |
| ډېر ناراحته یم | ٥ |
| انکار | ۹۸ |
| نه پوهیږم | ۹۹ |

**Q-٤** د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه‌لیک لاسلیک به ستاسو پر ژوند څه اغېز ولري؟

| | |
|---|---|
| زموږ د ژوند شرایط ښه کوي. **(Q-٤-A ته لاړ شئ)** | ۱ |
| بدلون نه راولي. **(Q-٤-A ته لاړ شئ)** | ۲ |
| زموږ د ژوند شرایط نور هم خرابوي. **(Q-٤-A ته لاړ شئ)** | ۳ |
| انکار **(Q-٥ ته لاړ شئ)** | ۹۸ |
| نه پوهیږم **(Q-٥ ته لاړ شئ)** | ۹۹ |

**Q-٤-A**. ولې دغسې فکر کوئ، هیله ده د خپل دغه ځواب دلیل بیان کړئ.( ځواب په خلاصه ډول او د لوستلو وړ کرښو سره ولیکئ.)

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

**Q-٥** ايا تراوسه مو د سولې اړوند کوم پروګرام کې ګډون کړی؟

| | | |
|---|---|---|
| هو | (Q-٦ ته لاړ شئ) | ١ |
| نه | (Q-٧ ته لاړ شئ) | ٢ |
| انکار | (Q-٧ ته لاړ شئ) | ٩٨ |
| نه پوهېږم | (Q-٧ ته لاړ شئ) | ٩٩ |

**Q-٦** هو، هيله ده وواياست چې پروګرام د چا له خوا (کوم کس؟، کوم بنسټ يا کومې شورا؟) له لوري ترسره شوی وو؟ (څو ځوابونه، کم له کمه درې ځوابه)

| | |
|---|---|
| ملي حکومت | ١ |
| محلي حکومت | ٢ |
| د سولې عالي شورا | ٣ |
| د سولې ولايتي شورا | ٤ |
| غيردولتي سازمانونو (انجوګانو) | ٥ |
| محلي شورا | ٦ |
| قومي شورا | ٧ |
| د سولې مشورتي لويه جرګه | ٨ |
| نور (وليکئ: ..........................................) | ٩٦ |
| ونه پوښتل شول | ٩٧ |
| انکار | ٩٨ |
| نه پوهېږم | ٩٩ |

**Q-٧** احساس کوئ چې تاسو يا ستاسو قوم څخه کوم بل کس تر کومه حده د سولې پروسې کې ښکېل دی؟

| | |
|---|---|
| مونږ په فعاله ډول ښکېل يو | ١ |
| تر يوه حده ښکېل يو | ٢ |
| ډېر کم ښکېل يو | ٣ |
| هېڅ ښکېل نه يو | ٤ |
| انکار | ٩٨ |
| نه پوهېږم | ٩٩ |

**Q-٨** احساس کوئ چې تاسو څخه د سولې پروسه کې تر کومه حده استازيتوب کيږي؟

| | |
|---|---|
| مونږ څخه تر ډېره حده استازيتوب کيږي | ١ |
| تر يوه حده مونږ څخه استازيتوب کيږي | ٢ |
| مونږ څخه ډېر کم استازيتوب کيږي | ٣ |
| مونږ څخه هېڅ استازيتوب نه کيږي | ٤ |
| انکار | ٩٨ |
| نه پوهېږم | ٩٩ |

**Q-۹** ایا غواړئ چئ د سولې پروسې په اړه تاسو سره مشوره وشي؟

| | | |
|---|---|---|
| هو | (Q-۹-A ته لاړ شئ) | ۱ |
| نه | (Q-۹-A ته لاړ شئ) | ۲ |
| انکار | (Q-۱۰ ته لاړ شئ) | ۹۸ |
| نه پوهېږم | (Q-۱۰ ته لاړ شئ) | ۹۹ |

**Q-۹-A** ولې داسې فکر کوئ، لطفن د خپل دغه ځواب دلیل بیان کړئ.( ځواب په خلاصه ډول او د لوستو ور کرښو سره ولیکئ.)

......................................................................................................................................

......................................................................................................................................

**Q-۱۰** د یوه اقلیت په توګه، څومره اوسني سیاسي نظام څخه رضایت لرئ؟

| | | |
|---|---|---|
| ډېر راضي یم | (Q-۱۰-A ته لاړ شئ) | ۱ |
| تر یوه حده راضي یم | (Q-۱۰-A ته لاړ شئ) | ۲ |
| نه راضي یم او نه هم ناراضي | (Q-۱۰-A ته لاړ شئ) | ۳ |
| تر یوه حده ناراضي یم | (Q-۱۰-A ته لاړ شئ) | ٤ |
| ډېر ناراضه یم | (Q-۱۰-A ته لاړ شئ) | ٥ |
| انکار | (Q-۱۲ ته لاړ شئ) | ۹۸ |
| نه پوهېږم | (Q-۱۲ ته لاړ شئ) | ۹۹ |

**Q-۱۰-A** ستاسو په نظر د دغه نظام کوم موارد بدلولو ته اړتیا لري؟( **که نظر یې نه درلود، Q-۱۱ ته لاړ شئ**) ( ځواب په خلاصه او د لوستو وړ کرښو سره ولیکئ.)

......................................................................................................................................

......................................................................................................................................

**Q-۱۰-B** ایا غواړئ چې دغو تغییراتو ته طالبانو سره خبرو کې انعکاس ورکړل شي؟

| | |
|---|---|
| هو | ۱ |
| نه | ۲ |
| ونه پوښتل شول | ۹۷ |
| انکار | ۹۸ |
| نه پوهېږم | ۹۹ |

**لاندې مواردو څخه د هر یوه د اهمیت درجه دې وپوښتل شي او مقابلو ځوابونو څخه یو یې په نښه کړئ: (د هرې پوښتنې لپاره یوې ټاکنې څخه کېږي تواه کړئ)**

| پوښتنې | | ډېر مهم | مهم دي | نه مهم دي | انکار | نه پوهېږم |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Q-۱۱ | څومره مهمه ده چې د سولې هوکړه‌لیک د ټولو ښاریانو لپاره د رای ورکولو حق څخه ضمانت وکړي؟ | ۱ | ۲ | ۳ | ۹۸ | ۹۹ |
| Q-۱۲ | څومره مهمه ده، چې د سولې هوکړه‌لیک د ټولو قومي او مذهبي اقلیتونو د فرهنګ او ژبې له خوندیتوب څخه ضمانت وکړي؟ | ۱ | ۲ | ۳ | ۹۸ | ۹۹ |
| Q-۱۳ | څومره مهمه ده، چې د سولې هوکړه‌لیک هېواد کې ټولې ژبې چې پرې خبرې کېږي، د ملي ژبو په توګه په رسمیت وپېژني؟ | ۱ | ۲ | ۳ | ۹۸ | ۹۹ |
| Q-۱٤ | څومره مهمه ده، چې د سولې هوکړه‌لیک د واک عادلانه وېش څخه (مثلآ د قومیت پر اساس د وزارت خونو وېش) څخه د ټولو قومونو ترمنځ ملاتړ وکړي؟ | ۱ | ۲ | ۳ | ۹۸ | ۹۹ |
| Q-۱۵ | څومره مهمه ده، چې له سولې وروسته حکومت، د ټولو لپاره په مورنۍ ژبه، ښوونې او روزنې څخه ضمانت وکړي. | ۱ | ۲ | ۳ | ۹۸ | ۹۹ |
| Q-۱٦ | څومره مهمه ده چې له سولې وروسته حکومت کې، ښاریان حق ولري، چې د والي، ولسوال او ښاروال په څېر محلي چارواکي انتخاب کړي؟ | ۱ | ۲ | ۳ | ۹۸ | ۹۹ |
| Q-۱۷ | څومره مهمه ده، چې د سولې هوکړه‌لیک، د ټولو لپاره ښوونیزو او روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي تضمین وکړي؟ | ۱ | ۲ | ۳ | ۹۸ | ۹۹ |

**Q-۱۱** د یوه اقلیت په توګه ستاسو درې اساسي لومړیتوبونه چې باید د سولې پروسه کې په پام کې ونیول شي کوم دي؟ (ځواب په خلاصه ډول او د لوستو وړ په کرښو ولیکئ.)

a) ……….. …….. …….. …….. …….. …….. …….. ……………………..

b) .......... ........ ........ ........ ........ ........ ........ ..........................

c) .......... ........ ........ ........ ........ ........ ........ ..........................

**Q-۱۲** د سولې رواني پروسې په اړه ستاسو درې مهمې اندېښنې کومې دي؟ (ځواب په خلاصه ډول او د لوستو وړ په کرښو ولیکئ.)

a) ........ ........ ........ ........ ........ ........ ........ ..........................

b) ........ ........ ........ ........ ........ ........ ........ ..........................

c) ........ ........ ........ ........ ........ ........ ........ ..........................

**Q-۱۳** د سولې هوکړه‌لیک وروسته څه باید وشي، ترڅو دوامداره (تلپاتې) سوله ولرو؟ (ځواب په خلاصه ډول او د لوستو وړ په کرښو ولیکئ.)

a) ........ ........ ........ ........ ........ ........ ........ ..........................

b) ........ ........ ........ ........ ........ ........ ........ ..........................

c) ........ ........ ........ ........ ........ ........ ........ ..........................

### د سروې اختتامیه

تاسو څخه مننه کوو، چې مونږ ته مو وخت راکړ او ځوابونه مو وړاندې کړل. کوم مالومات مو چې مونږ سره شریک کړل، په پټ ډول ساتل کیږي او د سولې پروسه کې د قومي او مذهبي اقلیتونو د غوښتنو شاملولو لپاره د غږ پورته کولو په موخه به، تحلیل او و ارزول شي.

Civil Society & Human Rights Organization (CSHRO)

EU AFGHANISTAN
PEACE SUPPORT
MECHANISM

میکانیزم حمایت اتحادیه اروپا
از پروسه صلح افغانستان
د افغانستان د سولې څخه
د اروپایي ټولنې د ملاتړ تګلاره

HREVO

Human Rights & Eradication of Violence Organization

Sida

Funded by the European Union